زما داعرض هم دي چي حتي باید داخیره باید دیوفرد په عضویت او رکنیت کي هم تاثیر ولري . اوس موږ براي تام ارکان لرو ! چي هغه هیڅ مکلفیت اووظیفه نلري ، صرف یوه خبره ده چي ماجهل وهشت کي تعهد کړي ، فلاني سره مي تماس و هغه به ډیر دمخه شهید شوي وي او دهغه خبره هم اوس څوك نشي تضعیفولاي، صرف همدایوه خبره ده که نه !! چي دجهل وهشت نه مي تعهد کړیدي دجهل ونه نه مي تعهد کړي اوبنجاه اوبنجاه ویك نه خوهیڅ څوك ځان بیرته نه ګڼي .نوراځئ چي دارکنیت لپاره یو شرط وګرځوو ، داخیره په‌ډي اجتماعاتو کي په دي تربیتي حلقو کي ددي خلکو برخه اخیستل اودلچسپي اوعدم دلچسپي اخیستل دهغه په رکنیت باندي اثرولري .

زه وایم هغه وروڼه چي یوه شپه له کوره بهرنشي تیرولاي ، تویه دي اورده مزل کي چي خم ویچ دي اوهرقدم کي یې خطرونه دي اوله موږنه دقرباني غوښتنه کوي چي خپل ځان ومال اوهرڅه به دخداي (ج) په لاري کي وقف کوو، نوبه دي اورده مزل کي به هغه له موږسره څنګه ملګرتیاوکولاي شي .

یو شپه له خپل پالنګ نه هغه لري نشي تیرولاي اودغه خیمولاندي هغه شپه نشي تیرولاي ، نوله هغه نه موږ څه طمعه ولرو، هغه به زموږ په څه درد وخوري ، همس زموږ داوږیهي به وي اوشکوي شکایتونه او اعتراضات به یې او روخوزموږ په درد نه خوري ، پدي اورده مزل کي زموږ ملګرتیا نشي کولاي ، زه وایم راځئ چي دا وآزمویو چي په رښتیا زموږ هغه ایثارګرملګري څوك دي چي هري قرباني ته تیاروي !! پدي ترتیب هغه دي قرباني ته تیاریږي پدي ترتیب موږ هغه جماعت روزلي شو چي هغه به دقرباني لپاره تیاروي خپل سرواومال وقف کولاي شي . متاسفانه چي ددي جهادپه دوران کي موږ خپله لاره غلطه کړه . پدي اعتراف کوو ! موږ یاخلك په مقام ارضا کړي ، یا مویه تویك قانع کړي ، یاموبه امتیازاتو خوشحاله کړي ، په دغوشیانو موږابللي اوبه تنظیم کي موځاي پرځاي کړي اوپدي ترتیب له هغه نه موږته ګڼ شمیر مشکلات راپیدا شوي، زه نه غواړم چي په تفصیلاتو کي یې داخل شم ، باید لدي نه بعد داسلسله بدله کړو، دقرباني په بنیاد خلك رادعوت کړو ، څوك چي دقرباني لپاره تیاروي

هغوي زموږملګري دي . څوك چي دالله لپاره قرباني ورکوي بس هغوي ته لاس ورکوو اوهغوي دملګرو په حیث قبلوو ، پدي ترتیب به موږمعلوم کړو چي په دي لاره کي دقرباني لپاره زموږ سره څوك تیاریږي اوزموږ ملګرتیا کوي .

زه وروڼوته دخوست ددي لویي فتحې په هکله هم مختصرمعلومات ورکوم :

رژیم ته دخوست ډیرزیات اهمیت وو، داسي ګومان مکوي چي بس یوولایت فتح شوي اودولایت یومرکز اویالوي ښار ، لکه دنورو ولایتونو په شان چي کنړ، کاپیسا ، بامیان ، تخار ، پکتیکا اوارزګان داسي ګومان مکوي بلکي دخوست ډیر زیات اهمیت وو خوست په حقیقت کي دافغانستان دکمونیستانو ترټولومطئنه او ستر قوي مورچل وو . خوست دکمونیستانو دکورحیثیت درلود، دانن نن چي په افغانستان باندي څوك حکومت کوي، پدي حکومت کي، پدي حزب کي ، دهغه په فوځ کي ټول حساس پوستونه دهغه چاپه لاس کي دي چي دهغه ولایت مربوط دي چي خوست دهغه جز دي اواکثریې په خوست پوري مربوط دي ، ددي معني داده چي دفوځ اودي حکومت ټولو غوښتل چي په خپل ټول توان طاقت له خوست نه دفاع وکړي او پرېنږدي چي خوست دمجاهدینو په لاس فتح شي ، همدا وجه ده چي نجیب ویل چي خوستیانو مطمئن اوسي چي ټول حکومت ستاسو ترشادي ! ټول فوځ ! قهرمان فوځ !! اوټول افغان ولس ستاسو ترشادي ! خوست ته مجاهدین نشي داخیلدلاي ، حتي کابل رادیوویل چي که مجاهدین وتوانیدلاي شي خوست ونیسي نوموږ به کابل دځغي په شکل ورکړو !! دابه دهغوي هدیه شي ! او تاسو ولیدل چي کومه ورځ چي خوست دمجاهدینو په لاس فتح شو، هغوي یوه ورځ دعزا اعلان وکړ ، نوره ورځ یې اعلان کړه ، پدي نامه چي دخوست سره رابطه قطع شویده ، ددي له کبله نه چي خوست دمجاهدینو په لاس پریوتي اوفتح شوي . رابطه قطع شوي ، پدي خاطر خفه یو او داتوره ورځ اعلانوو ! لدي لحاظ نه هم دخوست ډیر اهمیت وو چي رژیم ددي لپاره به ډیر تبلیغات وکړل اودښمنانو هم دخوست له جنګ نه یې یوه لویه قضیه جوړه کړه ، غوښتل یې چي دجلال آباد پیښه تکرارشي .

اوهغوي دي ته امیدوارو چي کیداي شي په نیماني لاره کي بیا مجاهدین له دغسي مشکلاتو سره مخامخ کړو چي داجنګ متوقف شي اوبیا دښمنانو ته دتبلیغاتو یوه لویه حربه په لاس ورشي چي دادي موږ نه ویل چي مجاهدین نشي توانیداي چي دجنګ له لیاري دکابل رژیم راوپرځوي ، باید سیاسي حل ته تیارشي ! اي افغان ولسه !! تاسوهم ومني چي دامجاهدین هسي بي ځایه په جنګ باندي اصرارکوي ! داافراطي ، بنیاد ګراعناصردي چي دجنګ باعث دي ! ته پریږدي چي دروغي جوړي له لاري د افغانستان قضیه حل وفصل شي ! پدي ترتیب هغوي دغسي خبیثي منسوبې درلودي ! غوښتل یې چي دجلال آباد پیښې تکرارشي ! ولي دالله اراده بیله وه او بالاخره خوست دمجاهدینو په لاس فتحه شو.

داسي ګومان مکوي چي شاید په خوست کي دمسلحو قواوو دمقاومت کمزورتیا دمهماتو دکمښت په وجه وه ، بلکي ددي دضعف اوعدم مقاومت لویه وجه دکابل پریشانه اومضطرب حالت دي .

دقطعاتو مقاومت خلاف معمول اوخلاف دانتظار تریل هروخت نه ضعیف وو. پدي حمله کي زموږ دشهداوودزخمیانو شمیرپه سابق کي تریلي هري حملي نه کم وو. دشهداو شمیر کم وو، دزخمیانو شمیر کم وو ، ددوي مقاومت خلاف دمعمول اوانتظارتریل هروخت نه ضعیف وو ، ځیني ګومان کوي چي شاید مهمات یې کم وو، نه ! رژیم وتوانیدلاي شو چي دخوست ترحملي نه دمخه کافي مقدار مهمات خوست ته ولیږي . هغه مخکي مسبوق وو چي په خوست باندي لویه حمله کیږي ، بنه یې ځان تیارکړي وو اوپه همدي خاطریې له غرورنه ډکي خبري کولي، اوس چي کوم مهمات دمجاهدینو په لاس ورغلي ترهغه همدا وایي چي دامهمات انشا ، الله دکابل دفتحي لپاره هم کافي دي ، په دومره کافي مقدار مهمات دمجاهدینو لاس ته ورغلي دي . نودخوست دقطعاتو دضعیف مقاومت وجه داته وه چي هغوي ته مهمات ندي رسیدلي . اودښمن پدي ندي توانیدلی‌چي خوست اکمال کړي . حقیقت دادي چي دکابل پریشانه وضعه ، هلته شدید اختلافات ، په فوځ کي مسلسل نیوني اومخصوصاً په همدغو اتلسو ورځو کي چي په خوست کي جنګ روان وو، یوځل بیاپه فوځ کي په وسیع پیمانه نیوني وشوي، بنه ډیر افسران دکودتا په نامه ونیولي شول او زندانونو ته ولیږلي شول ، دغه اضطراب اوپریشاني ، اختلاف دهغوي امیدواري ختمه کړي اودمقاومت په نسبت یې دهغوي دلچسپي تضعیف کړي . اوحقیقت دادي چي چیرته دمسلح افرادوپه قیادت اومشرتابه کي اختلاف وي توهغه جنګ ته زړه نه بنه کوي اولکه چي قرآن وفرمائلو په کوم آیت کي چي ماتلاوت کړ . بس داختلاف همدا اثرات دي ! هلته اختلاف وو ددي اختلاف په وجه دوي ناامیده وو ، مستقبل ته دوي څه طمعه اوامید نه درلودلو ، پدي خاطر هغوي ډیر ضعیف مقاومت ښودلي .

دکابل وضعه دومره پریشانه ده چي پدي دیارلسوکلونو کي هیڅکله هم داسي نده پیښه شوي . زه یقین لرم چي که اوس په بل هرځاي باندي دغسي حمله وشي، نو هغه به دمجاهدینو په لاس فتحه کیږي ، که دا اوس اوس کوم حالات چي روان دي په کابل کي که دخوست په شان بله هره حمله دافغانستان په هرځاي باندي وشي نو همدغسي فتحه به دمجاهدینو په برخه کیږي اودغسي دکابل دفوځ قطعات به دمجاهدینو په وړاندي مقاومت نشي کولاي . اوس چي خوست فتح شو ، دمجاهدینو روحیه هم بنه لوړه شوه ، دخپلي کامیابي په نسبت هم پوره ډاډه اومطمئن اودرژیم معنویات هم بنه تضعیف شوي، څکه هغوي ویل چي دخوست دفتحې معني داده چي ټول رژیم بیادمجاهدینو په وړاند ي مقاومت نشي کولاي . دغه دوي پخپله راپیداکړي . هغوي په خپلو ټولو قطعاتو کي داسي ذهنیت راپیداکړي چي که خوست دمجاهدینو په لاس فتح شونو معني یې

(٦مخ)

استاد پیرنگ — قسمت (۳)

اصطلاحات عرفاني در شعروادب دري

نوع تفکروشروط آن :

تفکروقتي عبادت مطلوبه وکلیدعرفان گفته مي شود که مطابق به ارشادات شریعت واصول طریقه محمدي (ص) که ازصدراسلام به تواترانتقال یافته وبه شرایط خاص به هدف شناخت ومعرفت معبودبرحق به تلقین ورهنمائي مرشد کامل صورت گیرد ، درغیرآن بیهوده وحتی گمراه کننده سالك نومن میگردد، چنانچه درابیات مختصري سوال وجواب ، سالك وعارف مولف گلشن رازمطالعه مینمائید

سوال :

کدامین فکرمارا شرط راهست
چراگه طاعت وگاهي گناه است

جواب :

درآلاء فکرکردن شرط راهست
ولي درذات حق محض گناه است
بود درذات حق اندیشه باطل
محال محض دان تحصیل حاصل
چوآیات است روشن گشته ازذات
نگردد ذات اوروشن زآیات
همه عالم زنور اوست پیدا
کجا اوگردد ازعالم هویدا
نگنجد نورذات اندرمظاهر
که سبحات جلالش هست قاهر
رهاکن عقل راباحق همیباش
که تاب خورندارد چشم خفاش
درآن موضع که نورحق دلیل است
چه جاي گفتگوي جبرئیل است
فرشته گرچه دارد قرب درگاه
نگنجددرمقام لي مع الله

جواب قسمت دوم :

ستومحبوس ارکان وطبایع
برون آي ونظرکن درصنایع
تفکرکن توردخلق سماوات
که تاممدوح حق گردي درآیات
به بین یك ره که تاخودعرش اعظم
چگونه شدمحیط هردوعالم
چراکردند نامش عرش رحمن
چه نسبت دارد اوباقلب انسان
چرادرجنبش اندابن هردوبادام
که یك لحظه نمیگیرند آرام

ازسوال وجواب فوق فهمیده مي توانیم که تفکر درعرفان اسلامي وحتی طاعت بسیربشر واقع شده مي تواند که درتجلي وصنعت الهي یعنی درخلقت ونظم کائنات توجه نموده تفکر نمائیم ومعرفت حاصل کنیم ولي ازتفکر درکنهه ذات الهي حذر داري نمائیم چنانچه سعدی (رح) میفرماید :

برگ درختان سبزدرنظر هوشیار
هرورقش دفتریست معرفت کردکار

درین قسمت بحث خودرا درموردتفکر خاتمه داده ودربحث آینده اصطلاح (س) را مورد بررسي قرارخواهیم داد

ادامه دارد

مژده

اي پاکبازان پیك جانان میرسد
کزقدوم نیك اوفرحت به یاران میرسد
گرافق امروزخونین گشته ازجورزمان
ازشفق بنگرکه دیگرماه تابان میرسد
گرچه شام غم بشد درکشورماچیره لیك
ازدرون ابرخورشید فروزان میرسد
این مثل هم هست گویند هرشبي داردسحر
ازپي هرشب نگه کن صبح تابان میرسد
کشورآباد ما گردید ویران ازجفا
بهرآبادي میهن مردمیدان میرسد
آریانا ی کهن هرچند شد زیروزبر
بازدورمسلم ومحمود سلطان میرسد
مشکلات مردم ماگرچه روزافزون شده
این به لطف خالق یکتابه پایان میرسد
ناامید ازرحمت حق هست شیطان رجیم
مومنان رانصرت قیوم سبحان میرسد
درمصیبت باش صابر، درتنعم شکرگوي
مرصبوران رابشارت هم زقرآن میرسد
چون سکندر تاختیم اندرلیل ونهار
انشاء الله چشمه مابرآب حیوان میرسد

پائیز

بختور

چي دخداي په مینه خپل کاندي سنگرځوك
بیابه نه گرځي هیځکله دربه درځوك
هم په دین اوپه دنیا کي دي سرلوړي
مجاهد غونډي بل نشته بختورځوك
چي په توره اوقلم کړي جهادونه
دهغو په خیر به نه وي باهترځوك
پرافغان مجاهدین دي چي ئي کړي
ؤال به تکړي ویونو ته تیترځوك
دروساتو غونډي مات اوتارومارشي
افغانانو سره وکړي چي ټکرځوك
داسپېځلي شهیدان دي هدیروکي
چي اروا حوته ئي دعاکوي نن هرځوك
جنتونه به په بیعه واخلي حق دي
یتیمانو لره جوړچي شي پدرځوك
په هیوادکي که بهاروي دسروگلو
په هجرت کي ئي ماته نه راوړي خبرځوك
خپل وطن به یادکي هسي شان کریم
لکه واچوي اغزویاندي بستر ځوك
سرفرازبه وي نوري په دواړوکونو
چي تابع وي (دیني خیرالبشرځوك)

ن - نوري

ځوانانوته خطاب

ځوانانو ستاسي شجاعت اوصداقت ته سلام
دخداي په لیارکي موجهاد اولوړهمت ته سلام
چه دروس ښکرمو ماتول دي شهامت ته سلام
تاسي دخداي برحق وعدي ته تحقق ورکړي
دروس دتوپ اوطیاري زورمو په شاپیولي
ځوانانو بوموقي شي بوحزب اوقوت جوړوي
ددسیسو په مقابل کي لوي طاقت جوړوي
دخداي په مرسته مستقبل پخپل هست جوړوي
دشهیدانو امیدونه سرته ورسوي
دخداي قرآن موبه وطن کي حاکم وگرزوي
هغه روسان چي یي دخلکو په کوروکي ؤکار
ددي نړي په ورو ، غټو مسئلو کي ؤکار
دشرق اوغرب په کارگري انقلابوکي ؤ کار
ماتي موورکړه نورمیدان ته راوتلي نشي
مداخله په لویو چاروکي کولي نشي
روس په گونډوشو نورطاقت مقابلي نلري
په غم اخته دي هغه زور اودمامي نلري
دتوب ټانکونو زورئي وخوت نورجیلي نلري
اوس اسلامي نظام اوجوت په بوه قوت وساتي
دپاك الله سره وفا اوصداقت وساتي
اوس راته ناست دي په مورچل کي امریکا سري خور
په شیطاني نیرنگ مو اچوي په جنگ کورپه کور
غواړي په صف کي شامل کړي اجنتان ئي په زور
کله پیسریاندي اخیستي غلامان لټوي
کله په سیمه کي نااهله عیاشان لټوي
که د"حدید" خبره اوري نورغولیږي به نه
له اسلامي جهاد اوصف نه جلاکیږي به نه
چي په سنگردي ورد انگلي ترشا کیږي به نه
بایه سپېځلي اسلامي افغانستان جوړوي
باپه سرو وینو به جامي کفن دځان جوړوي

خونخواران نفت

کفارشرق وغرب در اتفاقند
مسلمانان چرا اندرنفاقند !؟
تجمع کرده احزاب یهودي
براي محو اسلام دروفا قند
براي ریختن خون مسلمان
صلیبیون همه پرطمطراقند
به رب کعبه وارض وسموات
که روس وامریکا ازیك شقاقند
دفاع ازحرمین شد فرض مسلم
زغیرالله مدد جویان حماقند
خلیج میسوزد اندرآتش تیز
زبغداد تاریاض دراحتراقند
بگردون میرسد آوازمظلوم
غم واندیشه ام اهل عراقند
هزارنفرین به امریکا واعوان
که درظلم وجنایت بس فساقند
هدف سرکوبي مستضعفان است
که خونخواران نفت اندرتلاقند
" جهید " توصیف کن ان رادمردان
که دروقت ستیزهمچون براقند

عبدالرقیب " جهید "

ماه صیام

ماه صیام ماه پرازفیض هاست
فیض بیر، ایکه ترامدعاست
ماه صیام آمدواي نیکبخت
برمن وتو تحفه ذات خدا(ج) است
چندیي نفس وهوا دلفریب
راه هوا، راه خطا درخطاست
گرکه ریاضت کشیم ازراه صدق
باغ برین منزل وماواي ماست
چونکه به طاعت گهنم کم شود
شادي ماه رمضانم بجاست
جهد که تانفس مطیعت شود
ماه صیام لحظه آزمون ماست
بارخدایا! زره لطف خود
درگذرازجرم ، که بي انتهاست
ازره طاعت بهنم چونکه سر
خاك شوم ، ازکرم کبریاست
موتقف دل رابنگراي (حیات)
کعبه دل جایگه باصفاست

حیات الله " حیات "

گیله من

گیله

هسي خومین دمیني په پیوند له مینه گیله کي باني دشونډو دسودا په بازار گیله شي اوپادمیني دشوخ نظر دکږیدو دتیرو غشو له امله ددي دنیا دگرندي بازار دغمژني سودا هره شیبه گیله گیله ده . وروو دوروره گیلمن دي ، باني دپلاردپاتي سرماني په ویش لاندي پاندي وي . یادکشر اومشر دمتني اونه منتي دلته که دکشراومشر ترمنځ پریوبل پاندي ددي اوهغې اني بهاني شته همدغسي د مور،لور، پلار، زوي ،ورونواو خویندو دگیلو گزاروله ناندریو ژبي ستړي دي . دلته دگیلو بازار دومره گرم دي چي تودوالي ئي دژبو له خنجرو پرته دلاس لغتو اوکوتکو شیبوته رسیدلي دي .

دوروتو خویندو خبره خوځه لړ ډیره دموړپلار دترحم په کنټرول کي ده خو دتره ورارو دگیلوخبره دتاو تریخوالي له پو لو وتي ده .

اوددسمن اورئي دومره په غرغندو دي چي له دوي پرته کلیوال هم سبځي دکلي کور دوه گاونډیان پراخ تندي ته نه پریږدي اوبالاخره ددنیا دلوبي په دغه میدان کي دگیلو تیلي پداسي ځغاسته دي چي دصبر اوحوصلي مات گوټ آس ورپسي نشي رسیدلاي .

خودلته زما خبره نه دسرکو شنډو دگیلو ده اونه چیري دشوخو سترگو دتیرو بڼو دزړه دداغ انعکاس کوي ، نه دوروورگلوي دمزو دټینگښت اوسربنت په لفظونو ژبه خوځوي ، اونه دکلیوالو دمینځ غمژني رایاده وي .

بلکي زمونږ خبره بالکل بل شانته ده . زمونږ خبره دیوه سوچه اسلامي سپاهي گیله تشبلوي چي شپه او ورځ ددښمن په مقابل کي داسلامي ناموس سنگرساتي ولا همدانن ئي ټبرددښمن دمرمیو له امله په وینو سور دي اودسنگر دننه دخپل خپرن وجود بیرو وینتانو ځیري گریوان دوینو دبهیدو اونډرانو پرحال دخپل اسلامي مشر دترحم نظر غواړي خوره خبره اود روحیي دتازه کیدو لفظونه ئي پکاردي .

خواي دنیا ! خومره دبوهي اوعقل خاوندان دي پخپل مین تابه کي له گرنگو وغورځول دخپلو پردو دي بیزاره کړل اودومره دي دهغو کسانو زړونه خپل کړل چي بي له ستا دمحبته دچاسره دخبرو توان نلري ستا سره دمین تابه په دغه هاند کي نه ملا اکا پاتي شو اونه امي هربودبل په نسبت پدغه کارکي پرمسنده دي .

هو کي منڈه استادمحیت اومین تابه رانده بي له ځانه بل حوك نه وینی هغوي چي دقدرت او واك څښتنان دي ویش او تصرف ئي دشریعت دکلکي نیوکي لاندي دي که د خپلي کورني جاهل غړي ئي موجود وي دشریعت پرخلاف چي باید امانت اهل ته وسپاري دبل هراهل څخه ترجیح ورکوي . دخپل حزب اوټولني نابوده کارکن دبل حزب دتکړه او فعال مسلمان څخه مرغلین مزي گڼي .

دخپل حزب دځلورو پر لو په دننه کي هره ناروا رواگڼي اوهره نابوده کړنه ئي دکابي کرسه شمیري . نوڅکه چي ددغسي مقرراتو حسنئ دجغرافیوي پر لو اخوا د جهاد سنگرته ځي تودسیاست دوگر دغه رنده تگلار دځان سره وړي اوددي پرځاي چي دخپلو احزابو دسنگردارانو پرته دافغانستان دنورو مجاهدینو سره کښته وکړي تربو بالعکس تندي تروش شي اودهغوي دخبرو داوریدو تحمل خو پرځاي پریږده په ژبه بي مالگي پنجابي مرچك چي دجبتل په لفافو کي نغښتي وي ددوړه وي چي هره خبره ئي دزړونو دزخمونو پرته بل څه په ارمغان نه راوړي .

که دیوي خوا دجهاد سنگر دغسي رویه نشي زغملاي ، له بلي خوااسلامي شریعت مقررات دیوه اسلامي مشر لپاره ددغسي صفاتو لرل دعیس سورت په ریاکي مردودگڼي اونه پریږدي چي داسلامي ټولني مشرد ي ددغسي صفاتو لرونکي وي اوددي پرته که په ټولنه کي دژبي اوکردار اهمیت نه واي نو دبشریت رهنما اولارسود حضرت محمدصلي الله علیه وسلم ته به

دسووني اورهنماني داحسان اوپیرزوینې

خطاب نه کیدلاي اونه به هغه (ص) دخپل امت اوتابعدارانو په وړاندي دخور ژبي نیك اخلاقي نرمي دصفاتو خپلولو ته بلل کیداي چي داټول هغه ټولنیز صفات دي چي ددنیا په مخ دټولني دوگړو ترمنځ دپیوند اوټینگښت دود خپموي اورستیا خبره دا چي دیو حزب اوټولني په جوړښت کي ددغسي صفاتو رول له نورو ټولو اقتصادي اونظامي پیوندونو بهتر اوغوره دي .

که چیري په ټولنه کي دمشر اوکشر رهبر اورعیت ترمنځ ایکي پدغسي اسلامي صفاتو ټینگي شي بیابه مشران اوسالم قیادت دي ته نه مجبوریږي چي دمال اوویش په وخت کي دواکمنی پرگدي گریوان وشلوي خرڅي کله ئي دهغو دنیماني لاري له ملگروڅخه دلفافو اویکسو تحفي کمي باوړکي شي بیانو ورته دخپلو گونډي اوحسابي خلکو قهراوغضب راوپاري اوخوارکي مجبورشي چي خپل گوند اوحزب خو لاپرځاي پریږده په نوروسیاسي ډلگیوهم دیطلان کرښه راکښوي چي داټول پرته لدي چي مونږ دخپل کفایت اواهلیت اسناد ټولني ته ورکوو بل هیڅ نه کوو .

هو کي گیله موڅکه شي چي ددولس کلن جهاد په اورده موده کي مو دروسي دکبر غر دافغانستان پرځاي پخپله روسیه اوخیږه اروپاکي هم په سیندورلاهوکړ خو دجنگ پرته دتربیي په میدان کي چادومره پوه نکړو چي دازمونږ جهاد دچا په مقابل کي اودڅه لپاره و !!

اوکه پخپلو وینو اوقربانیو ددي جوگه شو چي روسان مو وویستل دابقایا ئي زمونږ دمشریزي پراختلاف اوتفرق پاني اوکه دجهاد په سنگرکسي مودشهیدانو اوزخمیانو بهیرکم شوي !!!

دجهاد دسنگر مجاهد سپاهیان پدي سه پوهیږي چي دروانو گیلو گنډارو اصلي لامل څه دي !!

اودچوکي دسیالي دجوړښت اوگټلو پدغه مبارزه کي زوړ دځوان په نسبت خومره لیواله دي اوپدي هم پوهیږي چي که دیوه خوا مونږ دوینو سیلاب دوحشت څنځیرزغره والي شوپلي په اموسیند ورلاهوکړي خودبلي خوا زمونږ دمشریزي داختلاف اوځان ځاني مرض مودجهاد گټلي برم اودمجاهدینو تیغه شمله دسره بیکته کړه .

خویوجام پکې تش ؤ

هغه ورځ دعام خیرات باران و . داباران دخیر اورحمت باران و ، کوم بچي کلونه کلونه بي افغان مسلمان ولس دعدل اوداد ترسیوري لاندي انتظارویست . هر چا جامو نه ورته اینودي وو او خپله خپله برخه بي یوړه . دچا جامو نه غټ وو هغو لویه برخه واخسته اودچا جامو نه واړه وو هغو لږه برخه یوړه . خو څوك پکي بي برخي پاتي نشول . دچاچي طالع سبځي وي غوړیه غوړوهم واوړیدل .

په دي عام خیرات کي اصلي مقصد داؤ چي داسلامي جهاد په میراو کرنلاره کي جهادي ادبي هلي ځلي په مختلفو ادبي سطحو ونمانځلي شي . که دالورینه ، شفقت اوبراخ نظري نه وي نو بیا به ډیرکم شمیر لیکوالان او شاعران دمعراج پوړي ته ختلي وي ، ځکه چي واقعي قضاوتونه بیا دجامخ اوځټ نه گوري او هم به دکتونکو اوقضاوت کوونکو په ډله کي ډیرلږ اومخکښان لیکوالان راغلي وو .

البته په دي جریان کي بودتوروزړه خاوند هغه چي هرڅه دعنادپه عینکرو یني هم دکتونکو په ډله کي راځي اوخپلي لوریني او شفقتونه ښندي . هغه داسلام له واقعي مفهوم څخه دبي خبری په حالت کي هغه جام تش پریږدي کوم چي ده ته دیوه اسلامي او هدفمندامین په توگه سپارل شوي ؤ .

اوبه دي توگه بو متعهد لیکوال دخپل حسداو کدورت په غشي وویشت اوبه دي کاربي نور دغونډي اسلامي ورونه هم وځورول .

قضاوت به سطحي نه کوو او په دي کاربه گوند په ټوله معنا نه ملامتوو، بلکه هغه څوك به ملامتوو چي دادنده ورسپارل شوي اوسه بي نه ده په ځاي کړي اودخپل وجدان په خلاف بي تصرف پکي کړي دي .

هوا زموږدتشتت اوبه بري عوامل داټول قضاوتو نه دي .

نوا راځئ چي اصلاح له خپله ځانه پیل کړو. که موږسم شو ټوله اسلامي نړۍ اوجهان به سم شي که موږ ریښتیا داسلام مواد پرځان تطبیق اوتعمیل کړو بیا به هرڅه موترسره کړي وي کوم چي خداي (ج) اودهغه رسول (ص) اومسلمانان پري خوښیږي .

هوا بیرته خپلي خبري ته راگرځم اوهغه داچي په عام خیرات کي ټول جامونه ډك ولاړل خو یوجام پکي تش ؤ . اویس

حکایت خیروشر (۲)

" شر" کوردل ، پس ازاینکه چشمان " خیر" را ازحدقه بیرون آورد، خودرا بهدف رسیده پنداشته ، باعجله ازکنارجسد بخون آغشتهٔ جوان همسفرش فاصله گرفت . " خیر" گاه از درد جانکاه چشمان ، فریادمي کشید وزماني برخباثت وبیوفایي " شر" افسوس میخورد .

ولي، فراموش نباید کردکه دوروراي اینهمه حوادث واتفاقات ، سلطاني قدرتمند وفرمان رواي دیگري ، ناظروحاکم است که گریز ازآن ممکن ومیسرنیست . " خیر" درآن لحظاتیکه ، همچون ماهي برروي تابهٔ تفتان صحرامیسوخت ، وهمه آرزو ها وامالش رابخاك یکسان میدید، دستي از پردهٔ غیب پدیدارگشت واورا ازآن صحراي حرمان وناامیدي به بوستان عافیت ونشاط کشانید.

صحاري نیز صحرا نورداني دارد که فصولي ازسال را بااحشام واغنام خویش روي فرش گستردهٔ آن ، دردل فضاي پهناور وگنبدین ، سپري مینمایند . باري ، محتشمي ازهمین طایفه درکنارهٔ صحراخیمه افگنده بود. شباني که گوسفندان اورامیچرانید ، اتفاقا به حوالي " خیر" نزدیك آمد.

صداوفریادي شنید که ازسوزش جان سرمیزد. بجانب آن درحرکت افتاد . جواني دید بخون آغشته ودوگوهر گرانمایه درکف دستش . شبان بحیرت فرورفت وگفت : خدایا ! این چه بلائیست که برسراین جوان سایه افگنده ! مگراورا جنیان به این دیار آورده اند ! یا عقاب آدمخواري چشمانش رار بوده ! هرچه باد اباد ، به این افسردهٔ المناك کمك بایدکرد !

به شبانان به دیدهٔ نیك باید نگریست . ایشان دنباله رو انبیا (ع) اند . حضرت سیدنا موسي (ع) مادام که به منصب ذي شأن نبوت رسیدو کلیم الله شد ، گوسفندان حضرت سیدنا شعیب (ع) رامیچرانید .

خواجهٔ شیرازگوید :

شبان وادي ایمن ، گهي رسد به مراد
که چند سال به جان خدمت شعیب کند .

صحرانشینان ، مردمان صاحب حمیت وبامروت اند . عطوفت ومهرباني باخون آنها عجین است . لهذا شبان دامن برکمرزد و " خیر" را ازخاکدان نامرادي به شانه برداشت وبخیمه گاه رسانید .

صاحب خیمه ، مردي مجرب وباوقاربود. درحال فرمود تااندام جوان را شستشو نمایند. تابداند علت درکجاست ، زیرا اندام " خیر" غرقه بخون بود .

بزرگمرد دانست که چشمان اوراکشیده اند . اندکي غورنمود، دیدکه آن دوچشم بمانند دوگوهر دردست جوان است .

کسان خویش رافرستاد تاازدرختي که درفلان کرانهٔ صحرا، برسرچشمه بي سایه افگنده ، برگي چند بیاورند که ازآن درعلاج چشمان جوان کارگیرد . اري ، در سفرهٔ مصفاي طبیعت ، چنان نعماتي تعبیه گردیده که نظیرآن درپیشرفته ترین دستگاههاي بشري سراغ نیست .

دربرگهاي درخت گویي حضرت مسیحا(ع) دمیده بود. زیرا دواي هرگونه بیماري هاي دشوار ولاعلاج درآن نهفته بود. آن درخت را " درخت شفاء" مي نامیدند والحق بجابود. ولي ، ازچشم بیگانگان پوشیده !

فرستاده گان ، علي الفور برگهارا بیاوردند . مردمحتشم ، دست بکارشد ومانند طبیب حاذق ، چنانکه میدانست ، گلوله هاي چشمان رابه حدقه درآورد وازبرگ درخت شفابه آن بست .

دردآهسته آهسته فرونشست وجسم رنجدیدهٔ " خیر" نفسي آسایش کرد وبخواب رفت .

فرداي آن ، جوان بیدارگشت وتقاضاي خوراکي نمود. چیزي از شیروغذاهاي موافق برایش بیاوردند ونفسش نیز آرام گرفت .

مردمالدار ، باردیگر چشمان اورابازکرد وازاورا ق تازهٔ درخت شفاء برآن بست . این تیمار داري چند روزي تکرارشد . اندك اندك خارشي درچشمان جوان پیداگردید . ودرمدتي کمتر ازیکماه ، بینایي چشمان بهمان صورت اولي ، حتي بهتر ازآن حاصل شد .

چون " خیر" بروي پاهاي خویش براه افتاد وسروصورت خودرا بشست وجامه یي راکه آن محتشم برایش تهیه کرده بود، بپوشید؛ همچون گوهر تابناکي درخشیدن گرفت .

بزرگمرد صحرانشین درسیماي جوان نگریست ودرآن تمکین وفراستي دریافت . پي برد که ازتبار مردمان پسندیده است. رغبت و جنبشي دردلش پدیدآمد وتخواست که چنین جواني ، کنارش راخالي گذارد .

تدبیري کرد وباوقاري که خاصهٔ جهان مردان است ، به جوان پیشنهاد نمودکه دوشیزه یي دارد، درپردهٔ عفت وحجاب پرورش یافته ، چه باشد که اگر آن را به نکاح درآورد !

بلي ، به نزد اهل بینش وخرد : داماد نیك وستوده جستجو کردن ، با ارزشتر ازعروس زیبا یافتن است .

جوان که زنده گي دوبارهٔ خویشرا، مرهون لطف واحسان آن بزرگمرد میدید، پیشنهاد اورا سعادت مکرر پنداشته ، گردن انقیاد رادرخط فرمانش نهاد .

سازوسامان شادي مرتب شدومحفل فرخندهٔ نکاح ، دردل صحراومیانهٔ خیمه برپاگشت .

چون فصل سرمانزدیکتر آمد وچرا خورها نیز کم کم ازعلف وگیاه خالي ماند، مردمالداربنابر عادت ومعمول، آهنگ بازگشت نمود .

اما، این بار رئیس قافله ، ارمغان دیگري باخود آورده بود که ازگذشته ها امتیازداشت . سرگذشت جوان ازیکسو وجمال وکمال وي ازسوي دیگر، همگان را مبهوت گردانیده بود.

آوازهٔ دانش ودرایت جوان به آفاق انتشار یافت وهرکسي را بجانب اومیل ورغبتي دردل پدیدآمد . هرکسي آرزومیکرد لحظه یي را به دیدار وصحبت وي سپري کند .

دراین میانه ، اتفاقا زمامدارقوم ، داعي اجل رالبیك گفت . مردم به سراغ جانشین وي مشورت کردند . بالاخره عزایم همه برآن مصمم شد که " خیر" ازهمه شایسته تر زمامداري قوم است .

آري ، صلاح ونیکویي راهمین سعادتها به دنبال است .

" خیر " آن جوان وفاکیش به داوري ودادرسي میان مردمان شب وروز رامیگذرانید که : روزي چنانکه خاصیت زمانه است ، دونفرشکایت آوردند ویکي ازآنان ، علیه آن دیگر ادعاي حقوقي داشت . اما ، آن دیگرباشدت ردمیکرد وآنرا بهتان وافتراء وانمودمي ساخت .

"خیر" بادقت وهوشمندي به چهرهٔ آندو نگریست . به سخنان شان گوش فراداد . چنان پنداشت که یکي ازآنها ، یعني مدعي علیه راگاهي دیده باشد .

بناء اورامخاطب نموده پرسید :

اسم شماچیست ؟
ازکدام ولایت مي آیید ؟
چه کسب وحرفه یي دارید ؟

طرف مقابل بهمه سوالها ، جواب غلط ونادرست ارائه کرد . اما اندکي آثار اضطراب وپریشاني درسیما وصدایش نمودارگشت .

"خیر" به پرسشهاي خود افزود . وچون حدس وگمانش قوي ترمي شد که اورا مي شناسد ،

آنگاه ازشهري که درآن شغل درزیگري داشت، جویاشد. شخص بیشتر پریشان گشت وزبانش لکنت کرد وجوابهانامفهوم ماند .

" خیر" که دیگرشبهه وتردیدي درشناخت مخاطب نداشت ، بلافاصله آوازبرداشت که :

من همانم که فریب تراخوردم !
توهماني که آب وآذوقه مراخوردي !
من همانم که سربه فرمان تونهادم !
توهماني که چشمانم رادرکفم نهادي !

باري ، اکنون که دیونانه فراچنگم افتاده یي ومجال فرارنداري ، وبرائر کرده ات ، هیچ باوري به زنده گیت نمانده-مطمئن باش که هیچگونه انتقامي ازتونمي کشم !
زیرامن خیرم وتوشر !

ادب وعرفان اسلامی

درجهاد امتحان دیگراست

اي دلا، داني زماني دیگراست
میهن مارافغاني دیگراست
کوه ما، دریاي ما، داردفغان
موج دریارازباني دیگراست
لاله گون شدکوهٔ وصحرا وچمن
کوه وصحرا رابیاني دیگراست
مادرماتمزده شد داغدار
بردلش داغ نشاني دیگراست
گریه جانسوز اطفال یتیم
اشك غم راکارواني دیگراست
بال بگشوده به کشورچترغم
درفضایش کهکشاني دیگراست
مام میهن سوگوار وغمفزاست
برزمینش آسماني دیگراست
ملك ماسوزد درآتش همچنان
لفظ مارا ترجماني دیگراست
تاکه نایددامن مقصدبدست
عقل ماراکي گماني دیگراست
میهنا ، آب وهوایت بادباد
گلزمینت گلستاني دیگراست
ملك غیرآیدمراناخوش هوا
آب وتابت راجهاني دیگراست
گلشن وگل همچوخار آیدبه چشم
هرچه باشد آشیاني دیگراست
خسته ودرمانده ام درملك غیر
قدرت ماراعناني دیگراست
لشکررزم آوران میهنم
درجهادش امتحاني دیگراست
گرکنیم وحدت شویم پیروزمند
وحدت ماراتواني دیگراست
صفحهٔ تاریخ رنگین جهاد
بهر اسلام ارمغاني دیگراست

محمدیاسین " نیازي "

جز درگه تونیست به مخلوق پناه
جزعفو توبخشیده نشد نامه سیاه
رحمي بنما به داعي تااین گوید
لاحول ولاقوت الابالله
ازالحاج قاري عبدالله " داعي "

د انقلاب سیلاب

داسیلاب دانقلاب اسلامي دي
باخیدلي په نامه دالهي دي
لسکرني مات پوزني په خاوروموبل کیږي
خوك چي لیاره دجهادکي خنډ گرزیږي
دادلوي مبارز غرخوره وباده
په زړه ناسته هم دځوان هم دبوډاده
که اسلام زمون په وینو ژوندي کیږي
بوخل څه ده ؟ لادي سل ځلي توئیږي
مور تاریخ دپلروځان سره ساتلي
دوطن غلیم موهروخت پرزولي
اسکندرکه چنگیزان که انگریزان دي
موږيځوا په گونډو کړي په میدان دي
تل مدام مودي شړلي زغلولي
چاچي موږسره سرونه جنګولي
دمیښي دشرق اوغرب یادهوا
که په خم کي راته رنګ کړي ظاهرشاه
په انصاف دعزتمو مسلمانو
په قاموس دټول جهان دحکیمانو
دملت قاتلان دوست نشي کیدلاي
په ملت باداري نشي چلولاي
زعامت اوقیادت دهغه چاوي
چه خوښ شوي مجاهد ملت له خواوي
" حذیذ " داپیغام له " چك څخه رادړي
مجاهد ولس دده په لاس ورکړي
* * * *

پروانشته

که دخداي (ج) په لارمی سرخي پروانشته
یامي مال هستي او زر - ، پروانشته
ژوندمي واړه صدقه شه دحق لارکي
هست وبود چي پري هدرخي پروانشته
چي صنائع وکاناتوبري خوسیږي
نفس ، اولادکه برادرخي پروانشته
دتوحید په کلمه به ئي نذرانه کړم
که خواره دژوند ثمرخي پروانشته
دمظلومو زروساتل موږجیبه ده
که مي غوسي په سنگرخي پروانشته
دباطل سره سازش لویه گناه ده
دسازش په ضد که سرخي پروانشته
کوم په حقه چي دي تللي تل ژوندي دي
په دي لاریه پختورخي پروانشته
شین بیرغ که داسلام پري اوچتیږي
خواني هیلي دزړه سرخي پروانشته
مادخداي (ج)سره تعهد کړي " قاطنه "
تن وجود یا مي خیگر زرخي پروانشته

قاطن

خلیج

ځومره افسوس دي مددغواړي کافرانو ځني
دمحمد رسول الله ددښمنانو ځني
مسلمان وژني په کفارو افتخارپري کوي
داسرائیلو بدل اخلي عراقیانو ځني
داغلطي وه دصدام چه تجاوزئي وکړ
انتقام اخلي مشرکان له ماشومانو ځني
تن دکویت اوسعودي په اسلامي ملکونو
لکه عراق وینه تویږي مظلومانو ځني
چه تجاوزئي دروسانو قانوني گڼلو
څنگه صدام کوي امید مسلمانانو ځني
عمرئي شو تیر په دښمني داسلامي امت کي
صدام دوغواړي بښنه مومنانو ځني
په عیاشي باندي اخته وه (صباح) کورني
لاره شوه ورکه دسعود له عربانو ځني
په اسلامي امت قابض بوځو بي لاري کسان
ځوك له غربیانو مددغواري ځوك روسانوځني
متګولي بیخ کړي په قرآن په خداي یقین ولري
پریږدي دوستي روس ، امریکي اوانگریزانوځني
اي ددنیا مسلمانانو متحدشي سره
ځان کړي حساب دمحمد له امتیانو ځني
د(حبیب یار) ده دا آرزو له اسلامي امته
کري مقدس ځایونه خلاص الحادیانو ځني

انتظاربهار

آن پاره عمرکودکي ام بیخبر گذشت
درخواب وجدبودم وغافل زخواب وزشت
ناقوي نوبهار جواني نواکشید
آمد ندا زشور وجنون وبهار ودشت
دیدم بهار وسبزه وباران باصفا
ناگه درین میانه خزاني پدید گشت
آمدبهار ورفت بیامد خزان ورفت
گاهي بهاردهرعیل دلم نگشت
مخمور روزگاربهاران وبادآن
عمري درانتظار بهاران بدرگذشت
غافل که انتظار بهارانتظارمرگ
بودست ولیك من به هواي بهاروگشت
دست اجل زدامن من برگرفت (ادب)
ازسبزهٔ دمیدهٔ گوروم بهار گشت

محمدصابر(ادب) عظیمي

استادبیرنگ

سرپناه

جاناترا که گفت جفا اختیارکن
بامدعي مروت وبا مامدارکن
عمریست منتظر به وصال توام هنوز
گوئي بمن زلطف ، کمي انتظارکن
این خاکساري ام زصفاطینتي بود
آنکس که طعنه زدبمنش شرمسارکن
هستم اگرفقیر بود صاحبم غني
اي بیخبر بمشرب من افتخارکن
بشنیده ام سخن زلب دوست گوئمت
دستت بکارداردولت رابیارکن
درشهربیکسي که نداریم سرپناه
که گفت بتوکه مودل موترقطارکن

وروڼو! راځئ چې یو بل ته لاس ورکړو او په ګډه د اسلام د دښمنانو توطیې شنډې کړو

داده چې نوررژیم دمجاهدینو په وړاندي مقاومت نشي کولاي .

داذهنیت هغوي دخپلو تبلیغاتو په وجه په ټول فوځ کي ، ملیشه کي ، درژیم په ټولو مسلحو مدافعینو کي راپیدا کړیدي اوپداسي حال کي چي هغوي له سختو اختلافاتو سره مواجه دي، باید له ځنډنه پرته کابل ته دورروستي ګوزار ورکولو لپاره ځان تیارکړو . باید ټول مجاهد ځواکونه ، جهادي تنظیمونه خپل قوت دکابل طرف ته سوق کړي او دمشترکو عملیاتو په ترڅ کي دیومشترک پلان په رڼاکي رژیم ته وروستي اوقاطع ګوزارورکړي . ددي پرواهم باید ونلرو چي شاید توطئه کوونکي دښمنان مونږته ستونزي اوکړاوونه راپیداکړي ، الله (ج) په داتوطئي شنډوي ، ددي پرواهم باید ونلرو چي شاید دمهماتو دقلت له مشکل سره به مخامخ شو ، په خوست کي الله جل شانه مونږته داراوسوله ، بس که ټول دنیا تاسو پرېږدي خداي تاسوته کفایت کوي ! دمجاهد دمشکلاتو حل کوونکي خداي (ج) دي اودمشکلاتو دحل زمه بي خداي (ج) وهلي . که ستاسترګي دنورو له دروازو راواوښتلي اوبواځي دي الله ته طمعه اوامیدوو نوبه خپلو سترګوبه وګوري چي خداي تاته کفایت کوي . خپلي مخي ته به الله اودهغه مرسته عنایت اوکومک وګوري .

راځي زه ټولو تنظیمونو ته ددي خبري بلنه ورکوم ، خپلو وروڼو ته هم ، دحزب اسلامي غړوته هم چي راځي اوس دنظامي لحاظه ترټولو اهمه موضوع خپله هنداوګرځوو ، چي خپل ټول قوتونه دکابل طرف ته سوق کړو ، مجاهدین تشویق اوترغیب کړو او په کابل باندي دیوي لويي حملي لپاره ځان برابرکړو ځینو تنظیمونو سره داتشویش دي چي په خوست کي حزب وسائل قبضه کړل اودولتي تاسیسات بي ونیول نوروته داموقع نه ورکوي چي خپل بیرغ اوچت کړي ، نوروته برخه نه ورکوي ، ځینو سره داتشویش وو اوزه چي په خوست کي وم اوریدل مي چي په پېښوركي لويه هنګامه ددي په باب راپیداشویده ، خاص حلقي هنډا تبلیغات کوي چي حزب اسلامي هلته ټول دولتي تاسیسات قبضه کړل وسله بي هم قبضه کړه او نوروته برخه هم نه ورکوي او نوردي چي کومه حادثه اوفتنه راپیداشي ، غوښتل بي چي زمونږ دافتحه په شکست باندي بدله کړي اوداسي ذهنیت راپیداکړي چي دادي فتحه خوشوه وګوري چي هلته څه روان دي ! شاید چي سبا بله ورځ جګړه وشي او وینې توي شي ! حال داچي هلته آرامه آرامي ده هیڅ مشکل نه وو اوپه خوست کي مربوط تنظیمونو مجاهدینو ته ، قومانداناتوته مااطمینان ورکړي ورته ویلي مودي چي ددولتي تاسیساتو په هکله ، دوسلي په هکله چي کومي فیصلي مخکي شوي ، دحزب ټول مجاهدین به دهغوفیصلوپه نسبت التزام کوي، مونږ دمخکنیو پریکړو په نسبت التزام کوو. ددي نه تشویش مه لري چي داوسائل به حزب قبضه کړي اودادولتي تاسیسات بس حزب نیسي اونوروته به موقع نه ورکوي ، نه ! مشترکه اداره باید جوړه شي ، دخوست امنیت باید تامین کړي او مخصوصا له هغو نه مي غوښتنه کړیده چي په همدغي مرحلي کي چي لاتراوسه پوري په خوست کي پوره امنیت ندي قائم شوي ، نظم ندي اعاده شوي ، لادخوست وضعه وبجاړه ده . مري يوطرف اویل طرف ته پراته دي ، مجاهدینو دافرصت ندي پیداکړي چي هغه دفن کړي ، داپدي خاطر ندي چي مجاهدین بي رحمه او قسي القلبه دي اونه غواړي چي هغوي دفن کړي ، بلکي اصلا وخت بي ندي پیداکړي.! بهتره داده چي پدي وخت کي مونږ خبرنګاران خوښت ته یونسو ، داخبر نګاران اکثرا د جاسوسي شبکوجاسوسان دي ، داسلام دښمنان دي ، په مجاهدینو بي خبرنه پېرزوګېږي ، هغه چي کومه خبره هم وايي غواړي چي مجاهدینو ته یونیش ووهي او دهغوي په خلاف څه راجمع کړي . هغه چي خوست ته ولاړ هنډا استاد راټولو ي چي دادي مري پراته دي ، دوکانونه وران شوي اوکورونه ویجاړشویدي ، په خوست کي بي نظمي ده دغه تبلیغات په بهرکي کوي ، بهتره داده چي دخبرنګاراتو له لیږلو نه خودداري وشي ، پرېږدو چي یو واروضعه آرامه شي ، امنیت تامین شي ، مشترکه شورا جوړه شي اودغنائمو مسئله اودولتي تاسیساتو مسائل ټول یوطرفه شي، بیا چي څرمره خبرنګاران مو غوښتل بیابي یوسي . خومونږ اوریدل

چي دلته ځینوخاصو حلقو سه وسیع تبلیغات کړي او دلته بي هنګامي راپیدا کړي ، همدغه کسان وايي چي که په کابل حمله وشو ، نوکیداي شي چي په کابل کي هم همداحالت تکرارشي ، بیا حزب اسلامي همداسي بوکاروکړي اونورمحروم پاتي شي، هسې هم حزب اسلامي دکوناالتزام کړي اونورمصروفوي، په کابل باندي دحملي په دوران کي نورهم له ځان سره شریکوي ، هغوي خپل کارکوي بیا به وروسته له دي نه ټول محروم پاتي کیږي .

زه دټولوحزبونو اوتنظیمونو مشرانو ته اطمینان ورکوم چي حزب دا اراده نلري ، مونږ مشترك عملیات غواړو او غواړو چي ددي عملیاتو دشروع نه دمخه یوه مشترکه اداره جوړه شي اودغي اداري ته دي دکابل رژیم دتسکوریدونه بعد داختیاراتو واګي په لاس کي ورکړل شي . دا اداره مو خوخلي له تاسره جوړه کړي ، بیابي هم جوړوو او مشروط پدي چي په تعهداتو باندي التزام وشي ، دیریکړواحترام وشي اوعهد شکني ونشي . اوس هم هغوي ته مونږ همداوایو .

دراځئ دانتخاباتو کارپیل شوي ، مونږ لدي طرحي سره موافق نه وو سه ډېر اعتراضات مودرلودل اوملاحظات مودرلودل ولي ددي ټولو ملاحظاتو ، اعتراضاتو اوددي طرحي د نقص سره سره مو تر هغه ومنلو وموویل چي تاسو شپږو وریاندي توافق کړي مونږ هم بادل ناخواسته له تاسو سره دروږو ! مونږ هیئتونه ولیږل ، مشترك هیئتونه داخل ته ولاړل ، له هغه ځایه دځینو منطقوته نتائج داسي وو چي ددوي دانتظار اودتوقع خلاف وو همغه طرحه چي دوي جوړه کړي وه دهغه په خلاف بي تبلیغات پیل کړل . داتبلیغات هم رادیوبي بي سي اوصداي امریکا له لاري . اعتراض او ملاحظه هم پدي ترتیب نه چي راشي اوکیني چي دانواقص دي، راځي دا اصلاح کړو. نه ! بي بي سي اوصداي امریکا کوي اوهغه شیطانان بس هم تیارناست دي همدغسي پروپاګندکوي ، چي یوځوك ددوي په لومه کي ولویږي اود هغوي په خوله دهغه دزړه خبره وباسي . دجهاد په خلاف ددوي په ژبه خبره وکړي . وویل چي دلته خو وسلي استعمال شوي ، خلك تهدید شویدي چي که مونږ ته رایه رانکړي نو بس سشابه خبرنه وي ، پیسي ویشل شوي . خلك په پیسو اخیستل شویدي، هیڅ ځاي داکار ندي شوي . دافیصله هم که کولاي باید هیئتونو کړي واي ، داځو دانتخاباتو دکمیسیون کاردي مونږ له دي طرحي سره توافق کړي . اوس هم وایوچي راځي دهمدغي طرحي مطابق دي سره لدي نه چي نواقص لري ، سره لدي نه چي دانتخاباتو طرحه نده ، خومونږ ددي لپاره چي داهم یوه لاره ده څه وکړو شورا دي جوړه شي اوهغه دي راتلونکي حکومت تشکیل کړي ، مونږبي منو. اوس تاسو ماته ووایاست دخداي (ج) لپاره تاسوته هم وایم اواتحاد غوښتونکوته هم وایم ! هغه اتحاد غوښتونکوته هم وایم چي مخلص دي اوپه اخلاص سره اتحاد غواړي او هغه هم چي اتحاد دهغوي لپاره یوه بنه حربه ده دانکوه هغه ټکوه خپلي عقدي حل کوه ، خپل انتقام اخله ، هغوي ته هم وایم . داتحاد مخلصو دعاتو اوغوښتونکو ته هم وایم تاسوته هم وایم چي ماته ووایاست چي مونږ څه وکړو، له دوي سره غلطه طرحه چي دوي جوړه کړي منو بي ! دوي خپله هغه نقض کوي بي دهغه مخالفت کوي څه وکړو !! پخپل عهدنه ودریږي ، پخپله خبره نه دریږي ، مونږ څه وکړو لدي نه مزید. ورته ووایي دامنو، داطرحه دي روانه شي ، ځنډونه مه راپیدا کوي ، له هري ولسوالي اوولایت نه دي نمایندګان راشي اوشورادي جوړه شي ، مونږدلویي جرګي نوم هم نه منلو،خو خوله مو وریاندي چپ ونیوله چي خبردي راځي چي شوراېو وارجوړه شي بیا وریاندي فیصله کوو. مونږ انتخابات غوښتل ، دانتخاباتو له خبري نه هم تیرشوو ، مونږ ویل پرېږدي بس چي یوه شورا جوړه شي کیداي شي چي دهغوله لاسه چي تصمیم وو ځي اوبوي لويي شوراته وسپارلي شي ، کیداي شي چي هلته دخبر خبره اودحق خبره اکثریت ومني . پدي خاطر موسکوت اختیارکړي وموویل چي راځي دغه طرحه چي که هرڅومره ده ددي مطابق دي داشورا جوړه شي مونږ دهغه فیصلي منو. اوس هغوي پخپله دهغه مخالفت کوي، دهغه په خلاف تبلیغات کوي. که دا نکیږي ، قیادي شورا دي جوړه شي ، څلوروتنظیمونو پدي باندي اتفاق کړي

طرحه بي جوړه شوي ترلاندي بي امضا ، کړي ، یوځلي بي امضاء کړي بیا بي امضاء کړي ، دوه ځلي بي امضاء کړي . که غواړي چي دغه طرحه تاسوته وښیم او اخبارکي به بي هم نشرکړو. راځي داهم یوه طرحه ده ، قیادي شورا دي جوړه شي ، دهغه لاندي دي یوموقت حکومت وي او وزارتونه دي هم دري ځلور په پېښور کي فعال شي نوردي منتظروي چي کله هم کابل فتحه شو بیا به وزارتونه هلته فعال کړو، تعهد به په دي کړو چي کله هم دکابل رژیم تسکور شوداحکومت به دهغه ځاي نیسي . داهم ! راځي داخبره پرېږدو په کابل باندي عملیات پیل کړو، دمشترك پلان اومشترکي قوماندي لاندي . چي دکابل رژیم تسکور شو په همغه ورځ موقت حکومت جوړوو . داموقت حکومت دي بیا په شپږو میاشتو کي په یوکال کي دي انتخابات وکړي منتخبه شورا دي جوړه شي اویومنتخب حکومت دي جوړشي مونږا بي منو. داهم نه مني ، مونږ وایو چي یواځي حزب اقدام کوي بله چاره نشته څه وکړو؟! حزب یواځي اقدام کوي خو دیواځي اقدام په صورت کي به حزب دکابل دشاوخوا قوماندانانو مشترکه شورا جوړوي ، دغه به یو موقت حکومت تشکیلوي بیا به داحکومت په شپږو میاشتوکي انتخابات کوي او چي چاهم اکثریت ترلاسه کړ قدرت دي همغه ته انتقال شي . اوس پداسي حال کي چي مونږ دي ټولو ته تیاریو، مونږ ته دي بل ځوك هم داسي طرحه وښیي چي هغوي بي مني ، دا چي همېشه به هغوي ته امتیازات ورکوو، موږدي څومره بي زیات دي مونږ به ورته ټیټېږو اوامتیازات به ورکوو ! نوداخونه دعدالت تقاضا ده اونه داسلام اونه په دي مشکل حل کیداي شي . که پدي مشکل حل کیداي شواي نو مونږ په باربار داوآزمویلو. ایا زمونږ مشکلات حل شول ؟

څومره امتیازات موورکړل تردي به مزید څه ورکړو !! داسي ځوك چي مونږ په کابل کي په خپلي مظاهري کي نه پرېښودلو ولي دسیاسي مصلحتونه په خاطر مو هغه رئیس جمهورکړ. لدي نه مزید څه وکړو؟ ماته دي داوورنه ووایي چي مونږ نورمزید څه وکړو؟ تنظیم ړنګ کړو، دجالپاره بي ړنګ کړو؟ په خداي (ج) قسم چي همدا اوس ترحزب نه غوره تنظیم وي نوزه به یوه شیبه هم په حزب کي پاتي نشم . چي زه ترحزب نه بل تنظیم غوره وګورم ، دصالح افرادو له لحاظه ، دقیادت له لحاظه ، داصولو له لحاظه ، دهدفمندي له لحاظه ، په جهادکي درول له لحاظه ، دقوت له لحاظه په ملت کي دنفوذ له لحاظه ، که زه په نسبي طور تردي نه غوره تنظیم وګورم زه داخیانت ګڼم چي زه په حزب کي پاتي شم .

(دحضارو پرله پسي تکبیرونه)

زه تاسوته هم قسم درکوم چي که تاسو ترحزب نه غوره تنظیم پیدا کړ، اوپاتي شي تاسوبه خیانت کړي وي . بس که د حزب نه موغوره تنظیم پیدا کړ ولاړشي . زما له طرفه تاسو رخصت یاست ، خو دخداي لپاره په ځي ، داسي نه چي که هغه زیات درکول بیا هلته ورشي که نه !! دمونږوعده بي درکړه دمقام او دمنصب اوپه اجرائیه کي دشاملیدلو ، فلان وفلان وسلي، پدي خاطر به نه ځي . دخداي (ج) له پاره که دحزب نه موغوره تنظیم پیدا کړ، هلته ولاړشي ، په حزب کي ډېرنواقص دي زه اعتراف کوم ډېر نواقص دي . زه دحزب په کیفیت راضي نه یم ، په تنظیم بي راضي نه یم . په حزب کي دتربیتي پروګرام نه راضي نه یم . دومره اعتراضات لرم چي شاید هیڅوك بي هم ونلري . ولي څه وکړم ترحزب نه بهتره تنظیم نشته ! ددي سره سره ترحزب نه غوره تنظیم نشته چي زه هلته ولاړشم زه داټولي خلاګاني منم ، داټول نواقص په حزب کي منم . زه ګورم چي افراد هم خام دي ، تنظیم موهم خام دي ، اداره موهم خامه ده اواصول مو هم نواقص لري ، ددي ټولي ناخي ته زه اعتراف کوم . زه ستاسو په وړاندي اعتراف کوم . دومره اعتراضات چي زه لرم شاید تاسو یوبي هم ونلري ، ولي ددي سره سره زه لدي نه پرته بله چاره نلرم .

دلته به صبرکوم ، په مدارمدارینه داصلاح کوشش کوم ، ترڅو خداي (ج) زما آرمان ترسره کړي اویو غوره اسلامي تنظیم ولرم . چي په هغه کي سیګښې اوخېربه نواقصو ډېر ډېر غالب وي ، زما وروڼو ته همداپیشنهاد دي .

اوس تاسوماته وښيي چي مونږحه وکړو مونږ ته لاره راوښیي ، داخبره ډېره ښه ده چي اتحاد وي ، وحدت دي وي ، اتحاد ډېرغوره شعاردي ، ډېرښایسته شعاردي ، دهرچاپه زړه باندي تاثیر کوي او زړه بي مني ، خومتاسفانه چي ډېربدنامه شوي . دومره بدنامه شوي چي اوس بي ځوك اوري حساسیت ښیي، داسي ګومان کوي چي شاید ددي ترڅنګ لاندي بیا به کومه بله خبره وي ، کوم بل مصیبت به وي کومه بله فتنه به وي، دومره بدنامه شوی متاسفانه چاچي غوښتلي بیل تنظیم جوړکړي ، نوشه شعاروړته اتحاد دي اوحتي داتحاد په نامه بي بیل تنظیمونه جوړکړي . وایي چي اتحاد غواړو داتحاد داعیه چلوو، ولي ګوري چي په مدارمدارهمغه یوتنظیم شوي . په خپل تنظیم کي مرور شوي ، دلته دتلو لپاره بي لارهواره کړي اواوس غواړي چي ولاړشي اوځوك بي ملامت نکړي ، ډېره ښه خبره اوبهانه اتحاد دي . داځوالتحاد نکوي زه ځم بل تنظیم ته، متاسفانه چي دااتحاد نوم ډېربدنامه شوي اومونږددي سره سره دااتحادغوښتونکي یو . صالح او مخلصو اتحاد غوښتونکو ته له خداي (ج) نه توفیق غواړو ، دهغوي قدمونه په لیمو قبلوو . صالح اومخلص اتحاد غوښتونکي چي دخداي لپاره اوپه دي ملت باندي ددلسوزي اوترحم په خاطر داسلام په نسبت دخپل تعهد په خاطر اتحاد غواړي زه دهغو قدمونه پخپلو لیموقبلوم . الله (ج) دي هغوي ته اجر ورکړي اومزید توفیق . خوزه فقط یوه توصیه ورته لرم ، او هغه داچي زمونږ تجربي داسي وسودله چي اتحاد داسي رانللي شي مونږ اول یو قوي تنظیم جوړ کړو او داقوي تنظیم ، اصولي تنظیم چي هلته شورا وي ، اصول وي او هلته دوروڼو ترمنځ دورورۍ فضاوي ، اخوت وي ، ایثار اوخودګذري وي ، قوي اداره وي ، هدفمندکسان هلته راغونډشوي وي داټول په ګډه راواخلو بیاله بل سره بي یوځاي کړو یابل له هغه سره یوځاي کړو، ماته دااتحادیواځیني لارهمدا ښکاري ! دوه تنظیمونه ، دري تنظیمونه ، څلورتنظیمونه داسره متحد کړو .

دتنظیم په داخل کي به داتحاد لپاره ذهنیتونه برابره وو خلك به دي ته مستعد کوو چي آماده وي تیاروي ، خوماته دا غلطي معلومیږي چي دیوخیالي شعارلپاره تنظیم ختم کړو ، اتحاد صرف یوشعاروي، په واقعیت کي هیڅ موجودیت نلري ، خوددي خیالي اوذهني شعارلپاره چي پنځه راغونډشوي دامختلف کړو ددوي وحدت هم ختم کړو . زه باورلرم چي ستاسو فردفرد زماسره پدي متفق یاستي چي پدي ترتیب اتحاد نشي راتلاي چي مونږبه اول تنظیم ختمونږبه هغه کي به اختلاف راپیداکوو داتحاد ترنامه لاندي داتشي کیدلاي . که نه !! داتحاد دراوسلو لاره داده چي پخپل کورکي به هم داتحاد کوشش کوو، پخپل ریاست کي به هم اتحاد راولو ، پخپله جبهه کي به هم اتحاد راولو ، په خپل تنظیم کي به هم اتحاد راولو اوبیا به کوشش کوو چي ددي لن خوره شي ، په ټول ملت کي هم اتحاد راشي اوپدي هم اکتفا ونکړو ټول امت متحدشي . پدي ترتیب وحدت راتللي شي . اماکه زه دپنځوله غونډو لونه ناکام شم . لس نشم غونډولاي . که په داخل دیوحزب کي دوحدت له تأمین نه عاجز شم تودوه حزبونه نشم متحد کولاي ، که یوحزب متحدنشم کړاي ټول ملت نشم متحدکولاي، دایه هسې تمناوي او یوه سه توقع به وي . بنه شعاردي ، بنه جالب اوجاذب دي . په هرمجلس کي بي چي زه مطرح کړم خلك به ماته چکچکي کوي اوبدرګه کوي به مي ، خو عملي ندي ، عملي لاره بي داده چي مونږ حزب هم متحد کړو اوجبهات هم متحدکړو . چي چيرته هم داتحاد لپاره له لاسه موڅه کیږي هغه ټول ترسره کړو .

په مدارمدار داتحاد لمنه خوره کړو، چي ټول ملت ته شامل شي اوټول امت ته شامل شي . مونږ اندماجي اتحادته تیاریو ، په باربار مووېلي زمونږ دشورا فیصله ده . چي ټول تنظیمونه دي په یوصف کي سره راغونډشي خوشرط موداویلي چي راځي ارکان او اعضاوته مواصفات وضعه کړو ارکان اواعضاء دي تثبیت شي . دوي ته پرېږدوچي امیرټاکي هغوي ته پرېږدو چي یوه شورا جوړه کړي . اوس زه څه وکړم هرهغه ځوك چي دي ته تیارندي چي ملزمه شورا دي ولري . زه څه وکړم هغه ځوك چي دي ته تیارندي چي امیردي خلك انتخاب کړي اوله هغه سره دي آزاد بیعت وشي ، زه څه وکړم هغه ځوك ځنګه قانع کړم چي خامخا تنظیم هم ساتي ، مساري برخه هم غواړي ، دشورا په نسبت هم التزام نکوي ، دخپلو تعهداتو هم خیال نه ساتي اصول هم نلري . زه څه وکړم له هغوي سره !! مونږخو اندماجي اتحاد ته هم تیاریو . دیته هم تیاریو چي داټولي کومي طرحي چي مامخکي عرض کړلي ، اوداهم منو چي تنظیمونه دي بیل وي ، بس دوروري فضا دي وي او دیوبل سره دي ټکر اوتصادم نکوي . ددعوت الي الخیر کاردي کوي ، امر بالمعروف اونهي عن المنکر دي کوي خوبه یوه واحده طرحه دي سره متحد اومتفق شي او دحکومت دجوړولوپه کیفیت دي پخپلومنځونو کي سره متفق شي . امیربه داسي ټاکل کیږي ، شورابه داسي ټاکل کیږي ، دامیر صلاحیتونه به دغسي وي ، دشورا اختیارات به داوي راځي په یوه طرحه توافق وکړو ، داهم زمونږ مشکلات راکموي ، مونږ دیته هم تیاریو، چي دراتلونکي حکومت په باب په یوي متفقي طرحي پخپلو منځونو کي سره صلاح شواویوبل ته سره لاس ورکړو ، تعهد وکړو چي راتلونکي حکومتونه به پدي ترتیب جوړیږي . زه هغه وروڼو ته چي دلسوزي لري ، په داخل دحزب کي هم دوحدت لپاره هڅه کوي ، دنورو تنظیمونو سره هم داتحاد لپاره کارکوي چي ددوي شمیرهم زیات دي حقیقت داذي چي ډېرزیات دي اوزمونږ ترټولو صالح اوغوره وروڼه دي ، هغه په رښتیا هم داسلام په نسبت او دخپل ملت په نسبت او ددي جهاد په باب دلسوزي لري . همداګومان کوي چي ددي تنظیمونو بودالي کولاي شي چي توطئي شنډي کړي ، زمونږ مشکلات حل کړي ، دیو اسلامي حکومت دجوړیدو باعث شي . مونږ هغوي ته اطمینان ورکوو چي مونږ ستاسو هلګري یو او زه دحزب فرد فرد ته وایم چي دهغوي په څنګ کي به ودریږي . کوشش به کوي چي ټول دهغوي په شان شي . حقیقت دادي چي په هغه چا کي هیڅ خیرنشته چي کومه خلا ګوري نقص ګوري او په هغه باندي دګوتي ایښودو ، جرئت نه کوي او دهغه داصلاح کوشش نکوي اوکه پخپله نشي توانیدلاي علي الاقل بل دي ته متوجه کوي چي دانقص رفع کړي ، داخلا ډکه کړي . په هغه کي هیڅ خیرنشته اوپه هغه چاکي هم هیڅ خیرنشته چي مسئول دي خودبل دخیرمشوره نه اوري . نه په دي کي څیر شته اونه په هغه کي . دحزب اساس پدي ایښودل شوي چي امیر به منتخب وي ، ارکان به بي انتخابوي . شورا به منتخبه وي . دامیر دخوښي کسان به نه وي . شورا به دیریکړو صلاحیت لري ، دمحاسبي اختیاربه لري . په شورا کي به ټول مسائل په جرئت اوآزادي سره عنوان کیږي اوپریکړي به داکثریت په اساس نیول کیږي . اجرائیه به وي، منتخبه اجرائیه ، دامیر دخپلي خوښي کسان په کي نشي راټولیداي او هلته به هم فیصلي په اکثریت سره وي .

اودحزب منځ کي چي ځوك ژوندکوي نوددغواصولو مراعات به ساتي . دازمونږ اصول دي . داداساس تامي تقاضا او غوښتنه ده . اعتراض لرو پخپله تنظیمي حلقه کي به يي کوو خلاګورو کوم ریاست کي چي بردهغه ریاست په شوراکي به هغه مطرح کوو. غوره نظر اوپیشنهاد راسره دي . دیوریاست دشورا غړي یم هلته به بي عنوان کوم . په یوه تنظیمي حلقه کي یم ، هلته به بي عنوان کوم او دهغه لاري ته به بي مسئولینو ته رسوم . دشورا غړي یم په شوراکي به بي یادوم . داجرائیي غړي یم ، په اجرائیه کي به بي یادوم ، خوله هغه نه به هنګامه نه جوړوم ، په بهرکي به هغه نه تبلیغ کوم . دازمونږ اساس دي اودیوچا دحزب نه وایستلو دلیل دادي چي هغه په بهرکي دحزب په منځ کي تبلیغات وکړي او داختلافاتو باعث وګرځي . اساسنامي لیکلي ، شورا تصویب کړي ، په حزب کي داعتراض اود انتقاد مجال شته خو اصولي لاري به طي کوي . دارکانو اجتماع کي اعتراض کیدلاي شي ، سوال کیدلاي شي ، پوښتنه کیدلاي شي ، په شوراکي اعتراض کیدلاي شي ، انتقاد کیدلاي شي ، پوښتنه کیداي شي ، محاسبه به کیږي ، په اجرائیه کي به نظرورانديکیږي ، اعتراض به کیږي ، پوښتنه به کیږي ، داټولي لاري راښودلي شویدي .

وروڼو ! پدي خاصه مرحله کي ماته لوموږي مهمه خبره داښکاري چي باید خپله توجه جهادته راوګرځوو اوټولوتنظیمونه هم دیته تشویق کړو اوپه خپله هم پخپل ټول توان طاقت جهادته توجه وکړو. دجهاد په خلاف ګڼ شمیرتوطئي رواني دي . ددغو توطئو دشنډولو لویه لار داده چي مونږ په جهاد ترکیزوکړو ، که مجاهدین دجهادله لاري کامیاب شول، ددښمنانو ټولي توطئي شنډي شوي اوددوي دخوښي اسلامي حکومت به جوړیږي اوکه له جهاد نه پرته مونږله بلي لاري دافغانستان دمسئلي دحل کوښش وکړ نوبه مونږ باندي به دپردیو دخوښي مطابق حکومتونه تحمیل کیږي . متاسفانه مونږ دغسي دوست نلرو چي هغه سل په سلوکي یواسلامي حکومت دمجاهدینو په لاس په هرقیمت وغواړي ! هرځوك دخپلو خاصو سیاسي مصالحو په خاطر زمونږ لپاره یوه خبره کوي اوبیازمونږ تاپید اوملاتړ کوي. داپن المللي حالات داسي برابرشوي چي بس مجاهدین به پخپله والله (ج) په اعتماد اوتوکل اودجهاد له لاري داسلامي حکومت دجوړولو کوشش کوي . بلي لاري ته دي طمع اوامید نه ساتي . غرب لن زمونږ په خلاف په خطرناکو توطئو کي ملوث دي . هغه غواړي چي ددنیا دیواځیني سترطاقت په حیث دخپلي خوښي نوي عالمي نظام پردنیا مسلط کړي. دغسي عالمي نظام چي دهغوي ګټي تامین کړي اوپه دي وروسته پاتي آسیایي او افریقایي ملکونوکي دخپلي خوښي حکومتونه تحمیل کړي اوبیادهغوي بقا تضمین کړي .

غرب دي هدف ته درسیدلو په لاره کي اسلامي تحریك ځان ته یواځیني خنډ ګڼي او دهغه دختمولو اوځپلولپاره بي ملاتړلي ده . قیادتونه بي باید ترورکړي ، پدي کي باید مطرح شخصیتونه بدنام کړي . تنظیمونه بي باید ګډوډ کړي ، په هغه کي اختلافات باید راپیداکړي اوچي په هرقیمت کیدلاي شي باید پرېنږدي چي چیرته هم یواسلامي قوي ملك اوحکومت رامنځ ته شي . داخبره هغوي په خرګند طورکړي . دغرب اخبارونه اوس ددي خبري نه ولك دي چي پس دغرب دآقائي اوپه ټوله دنیا دتسلط اوپه دنیا باندي دنوي نظام دتحمیل په لاره کي صرف اسلامي بنیاد ګرایان خنډ اومانع دي . واسلامي بنیاد ګرایان باید وځپلوي ، ختم بي کړي. زه باورلرم چي په عراق باندي دغرب حمله که څه هم زمینه ورته عراق برابره کړه ، که څه هم په کویټ باندي دعراق دحملي ترنامه لاندي اودکویټ نه ددفاع ترنامه لاندي هغوي داخل شوي ، خودعراق ټکول اوختمول غرب پدي خاطرکړي چي داهم په یواسلامي ملك کي یومسلح فوځ وو . زعامت وقیادت وحزب بي که څه هم بعثي وو . هغوي ته دا مهمه نه وه . که دابعثي حزب په یوغیراسلامي ملك کي واي اوهمدارازقوي فوځ بي درلودلاي . دغسي به یوبل ملك بي تیري کړي واي هیڅکله به هم غرب داعکس العمل نه وو ښودلاي . داسي دیوملك پربل ملك باندي دحملي ډېر مثالونه شته په همدغوځلونو کي شته . غرب هیڅ عکس العمل ونه ښودلو . مونږ هیڅکله دعراق دنظام مرسته نده کړي . او په ډاګه موویلي چي مونږ دعراق برسراقتداررژیم غندنه کوو. ددي لپاره چي دافغانستان دقضیي په ارتباط دروس اوپه افغانستان باندي دروس له خوا تحمیل شوي حکومت مرسته بي کړي په کویټ باندي مودعراق حمله ترټولونه دمخه اوپه قاطع الفاظو مومحکوم کړي . خودلته مسئله په یومسلمان ملت دسل زره ټنه بم اورېدو موضوع وه . یوکامل ملك

ورانیدو ، غرب غوښتل چي داسرائیلوتسلط په دي منطقه کي قائم کړي اوټول هغه ځواکونه وځکوي چي اسرائیل تهدیدوي ! دلته دیو مسلمان په مرګ باندي دهمت کولو اوغیرت کولو مسئله مطرح وه .

زه نه پوهیږم ! زما نظر خودغسي دي ، ما اسلام آبادکي دتلویزیون په صفحه کي امریکائي عسکرولیدل چي عراقیان بي تلاشي کول .

ولي ډېربه اهانت آمیزه طور ، په خداي (ج) قسم چي زماوینستان ورته ځیږه شوي . دازما عراقي وروروه،اویوکافرهغه داسي سپکوي څنګه به دیوچا په زړه کي ایمان اوغیرت وي اوهغه دي تحریك نشي !! چي یوځوك داصحنه ګوري چي یوعراقي دیته مجبوروي چي عراقیان ، یونه بلکي ګڼ شمیر دامریکائیانو یوټونه سکل کړي . لاسونه بي سکل کړي ، پښو ته بي ورپریوځي . چي په چا کي غیرت اوهمت وي هغه به تحریك نشي !! مونږخوبه دي غیرت کړیدو، په یومسلمان قوم داسلام د یولوي دښمن له خواحملي غندنه موکړي اوپه یومسلمان قوم باندي موغیرت کړي

ویلي مودي غرب راغلي چي په خلیج باندي مسلط شي اوپېرته دوتلو اراده نلري

مادسعودي مشرانوته هم په واضح الفاظو وویل چي تاسویدي څنګه اعتماد کوي مابي درجه یك مشرانوته وویل چي کوم کسان چي په سعودي کي دامریکایي فوځونو دراتلومخالفت کوي ، داکسان یواځي هم په دردخوري ! کیداي شي امریکائیان ونه غواړي چي له سعودي نه ووځي . دغه کسان به بي مجبوره کوي، دغوکسانو غزمه خفه کوي، پرېږدي چي دوي په جرئت سره دامریکائي فوځ خلاف خپل غږاوچت کړي ، مادهغه ځاي درجه یك مسئولینو ته همداخبرکړي ما ته راغلي وو ورته ویلي مودي چي ماته وسیي چي که عراق وټکولاي شي دادچا په ګټه دي ، که عراق ختم شونو اسرائیل به تاسو تهدیدوي . تاسو خوایي چي ترعراق نه ایران مونږته خطرناکتره دي . دایران په خلاف موعراق تقویه کولو دعراق ټوله وسله اوفوځ تاسودمرستو نتیجه ده ! که عراق وټکولاي شي ددي ګټه چاته رسیږي ! بیابه هم هغه غربي طاقتونه وایي چي تاایران تهدیدوي ، نه مجبوري ، محتاج بي چي زمافوځونه واوسیږي اوتاحمایه کړي ، په دي ترتیب هغوي ته سه بهانه په لاس ورغلي ده چي دتل لپاره په خلیج کي خپل فوځونه پرېږدي . باید دغرب دعزائمو مقابله وکړو.

الله په مونږباندي ډېره ډېره لویه پیرزوینه وکړه ، زه دخداي ددي لويي پیرزویني سخت مرهون یم چي مونږبي له ډېرمخه دیته متوجه کړو چي باید په دغه وخت کي چي مونږ دروس په خلاف جنګیږو ، امریکا هیره نکړو اوزمونږ شعارونه دامریکا او دروس پرضد توام وي، که مونږ داکار نه واي کړاي اوداغلطي موکړي واي چي امریکا خوزمونږ دوست دي اوزمونږ مرسته کوي نن به دا افغانستان اوزمونږ جهاد دامریکا په لمنه کي لویدلي وو. ځوالله الحمد دخداي ډېرمرهون یو ددي پیرزویني اودهدایت اولارښودني نه چي مونږبي په همغه وخت کي متوجه کړو چي داوس اوس باید دامریکا په خلاف په قوم کي حساسیت اونفرت راپیداشي اوخلك داسي ګومان ونکړي چي امریکا زمونږ دوست دي ، ځکه چي دروسانو په مقابله کي مبادا داقوم اودجهاد دامریکا په لمنه کي ونه لویږي . خداي پاك لطف کړي ، دهمدغه مخالفت په وجه دي چي نن حتي دامریکا سخت بي شرمه جاسوسان هم ددي جرئت نشي کولاي چي له امریکاته دفاع وکړي او دهغوپه نفع څه خبره وکړي ! که هرکار کوي پټ بي کوي ! چي هرکار کوي په پټه بي کوي . ښه ډېر کارونه کوي خو په پټه ، دقوم په وړاندي څه نشي ویلاي .

که مونږ داذهنیت نه واي راپیداکړي ، مجاهدینو دا ذهنیت نه واي راپیداکړي او والله داپیرزوینه پدي قوم باندي نه واي شوي نو نن به هغودامریکا جاسوسانو به ډېرافتخار او جرئت سره دي جهاد په خلاف سازشونه کول او په جرئت سره به بي پدي باندي افتخار کولو ، داوس غربیان چي ستامهاجرینایي نویه قونسلګري اوسفارت کي وریاندي یوه فورمه ډکوي، دایو سخت متعصب عیسائي تنظیم تنظیموي . یوسخت ، متعصب عیسائي تنظیم دادمهاجرینو دغونډلو دلیږلو اوهلته دمصارفو

(۷مخ)

ورونو! راځئ چي ...

گارتنظیمو ، هغه وریاندي یوه معینه فورمه ډکوي په هغه فورمه کي دغه شرط وریاندي وضعه کوي ، ځومهم شرطونه چي دامریکاټولوقوانینو ته به احترام لري، بواوددوو ښځوکول په ناجائز ګڼي اودښځي سربه برېنډوي ا سینه به یې هم لوڅه وي ا اوکه دټیکري سره یې عکس اخیستي وو دامتعصب دي دا دامریکا وړندي دانشي تلاي . هغه لدي ځاي نه اول کافرکوي ، بیابې لیږي ، داسند ورته اخلي اوچي امریکا ، اروپا اوجرمني ته یې هم بوتلو بیائوهلته ماشومان یې په خپلو مدرسوکي تربیه کوي اوغواړي چي له هغوته عیسویان جوړکړي اوچي کله هم ماشوم پلارته راځي او وایې چي ماته خوداسي دعیسویت درس راکوي اوددین خلاف اوداسلام خلاف اوهغه ددي پرضد څه ورته ووایې اوماشوم ولاړشي اودخپل استاد درس مخالفت وکړي په همغه لحظه بیاباداشت ولیکلي شي پلار یې احضارشي هغه یاتهدیدشي یا زنداني شي ، تاڅه حق درلود چي دخپل زوي استقلال اوآزادي سلبوي . دلته چي کومي غربي موسسي لګیادي دلټولي جاسوسي شبکي دي ا اوددوي کاردادي چي جاسوس تربیه کړي ا کاربې دادي چي داجهاد ختم کړي ا قوماندان ته وایې‌چي داتنظیمونو څه ګرځدي ټول ګارخوته کوي ، قرباني ته ورکوي ، جهاد ته رهبري کوي اصلي قوت ته یې ، تنظیمونه پریږده ، مرسته یې ورسره وکړه ، مستقیم اوماباشرمرسته ، بیابې تحریك کړچي بس راځه اروپا اوامریکا ته چي یوه دوره به هم وکړي ښه ده . هلته به له مسئولینو سره هم له نژدي نه خبري وکړي ا امریکا ته یې بوځي ، په دریمه مرحله کي ورته ووایې چي که غواړي موږ به دلته په پیښور کي ، په اسلام آباد کي ، په پاریس کي ، په لندن کي ، واشنګټن کي تاته یودفترهم خلاص کړو. صرف ددي لپاره چي کله مریضان رالیږي دلته هغوي تداوي شي او کله که څوك کومك کوي ددي لاري نه تاسره مرسته وکړي . موږ خوغواړو چي له مجاهدینو سره مرسته وکړو ا که تنظیم سره کومك وکړو چي داضایع نشي اویه بل ځاي کي مصرف نشي ، نوته لطفا دازموږ کومك قبول کړه ، چي یو وارهغه دي په مستقل کومك پاندي عادت کړ اوبیابې داروپا اوامریکاسفرونه او دوري هم ورباندي وکړي اوهلته هم ښه ډېرکاروته ا چي ضرورنده هغه توضیح کړي چي څه ګاروته ا اوبالاخره یې هلته بیل دفترهم ورته جوړکړ . مستقل تنظیم شو او پدي ترتیب یې قوماندان له تنظیم نه بیل کړ . په بله مرحله کي ورته ووایې چي باره دي سیاسي مشرانو خوځه ونګړل ، متحدنشول ابتکارنلري ، دقضیې لپاره کوم حل نشي وړاندي کولاي متحد کیدلاي نشي، تاسو خپل مسئولیت اداکړي ، ابتکار وکړي راغونډشي ، منظم شي ، شورا جوړه کړي ، موږدیته تیاریو چي په پیښورکي درته دفترونیسو ، موږ دیته تیاریو چي ددي لپاره درته تبلیغات وکړوا ستاسو مرسته به کوو! هیڅ بدنیت نلرو صرف غواړو چي داختلاف مشکل حل شي او داقوماندانان خپل رول اداکړي ! بیاداشورا دتنظیمونو خلاف استعمال کړي ! قومي مشرانو ته ووایې چي دي قوماندانانو دي تنظیمونو څه کړي !! که دوي څه کړي هم دي ددوي دورختم شو ، جهاد کي دوي موثر وو. مطرح ول اوس خوجهاد ختم شویدي اوس دجهادپله مرحله رارسیدلي ! دملك داداري اوتنظیم ! ته باید خپل ځاي اشغال کړي اوخپل رول اداکړي ، دقوم مشربي دقوم تاته سترګي دي ، تاسو باید سره راغونډشي ، منظم شي ، هغه دافغانستان عنعنوي لویه جرګه جوړه کړي ! دافغانستان سرنوشت وټاکي ! دا قوماندانان څه نشي کولاي ، داتنظیمونه څه نشي کولاي ! بیا دقومونو په بنیاد هغوي ته شوراګانې جوړي کړي . داحمدزیو شورا، دستانیکیو شورا ، ددرانیو شورا ، دغلجیوشورا په داخل کي ورته مرکزونه جوړکړي اوحتي په دي شوراګانو کي پیښترتامسن پخپله کیني ، په جرګوایښونو کي ورسره برخه اخلي ! دغربي موسساتو مقصد دادي چي داتنظیمونه ختم کړي ، دي تنظیمونو اقوام متحدکړل . اوس یې بیرته باید دوي یې تجزیه کړي اوټوټې ټوټې یې کړي . داتنظیمونه دملي وحدت ضامن دي باید داتنظیمونه وټکوي اوختم یې کړي . باید زموږ قوم تجزیه کړي . دلته یومنظم قوت جوړشویدي چي داداسلامي حکومت قوت ، قدرت اواستعداد لري ، دابابد ختم کړي .

لاره یې دغه ده ، قوماندان دتنظیم په خلاف تحریك کړي ، قومي مشردقوماندان په خلاف تحریك کړي ، دقوم په بنیاد شوراګاني جوړي کړي اومتاسفانه چي موږ دغسي یوله یوي خوا موږ ته ډلي جوړه وي اوبل له بلي خوا ډلي جوړه وي، ځوك به ګوري چي دمذهب په بنیادډلي راته جوړوي . او دژبې په بنیاد ، دسمت په بنیاد ، دهغوي مقصد دادي چي زموږ دا ملي وحدت ختم کړي چي په هرقیمت کیدلاي شي . هغوي په افغانستان کي یوقوي حکومت نه غوښوي . حتي هغه کسان یې هم نه غوښوي چي موږیې خپل ډیرښه دوستان ګڼو. څه وکړو ! مصیبت دادي اهغوي خپل مصالح په همدي کي لټوي چي په افغانستان کي تفرق وي ، اختلاف وي ، تشتت وي ، بدنظمي وي ، برخوردونه وي اوضعیف حکومت وي ، دوي ته محتاج وي ، دوي ته مشکلات راپیدا نکړاي شي هغوي داخوښولاي شي . قوي افغانستان اوقوي حکومت هغوي نه خوښوي .

ورونو ! راځي یوبل ته لاس ورکړو او ددښمنانو دغه توطئي شنډي کړو. موږ دهغه قوماندان قدرکوو، موږ ته ډیر ګران دی اوزموږ په زړه کي ځاي لري چي ددښمنانو دتوطئودمقابلي جرئت لري اودهغوي په لوموکي نه پریوځي هغه په محرومیتونو کي صبرکوي خودومره غیرت اوشهامت لري چي نه پریږدي دهغه دملت په سرنوشت پاندي لوبې وکړي ا خوله هغه چانه عمیقه ګرکه لرو چي دپردیو په لاس کي پریوتي اوپردي یې دخپلو شوموومقاصدولپاره استعمالوي . داچي هرڅوك وي !

ورونو ! زه په مجاهدینوکي څوډلي خلك ګورم". لومړي ډله هغه ده چي قرباني یې ورکړي ، مزیدي قرباني ته تیاردي ، اجرله الله (ج) نه غواړي . له الله (ج) نه پرته دبل چانه داجراودپاداش طمعه اوامید نلري . سره له محرومیتونو ، شکوه وشکایت وجزع وفزع نکوي . دحزب پرضد تبلیغات نکوي ، که بل دحزب سپکاوي کوي ، نه یې شي ځغملاي . که څه ملاحظه لري ، خالیګاه ګوري ، نواقص مشاهده کوي، نو بایه خپله راوړاندي کیږي اودرفع کولو کوشش بې کوي ، که یې نشي کولاي لومړي مرجع ته ، دوهمي ته ، دریمې ته او وروستي مرجع ته یې رسوي . ټینګ یې له ګریوان نه نیسي چي داکاربه خامخا کوي اوداخالیګاه به ډکوي. داستاکاردي ، که نه یې شي کولاي ، پریږده داځاي بل چاته یې تخلیه کړه ، بیاله هغه مسئول سره مرسته کوي دهغه یوخیرخواه مشاوردي ، ددوست په حیث ورځي ورته مشوره ورکوي. داستاکاردي خیرېه دي کي دي چي داکار وکړي . هغه څه ته متوجه کوي چي دي ورته متوجه ندي . زه خوله خداي (ج) نه دغسي مشاورین غواړمه . الله ته مي سوال دي چي په حزب کي دغسي کسان زیات کړي . چي موږ خپلي غلطي ته متوجه کوي اونیکي مشوري راکوي . زه ددي مسئولیت دترسره کولو لپاره ځان اهل نه ګڼم ، په خداي (ج) قسم اهل یې نه ګڼم .

اوددي په نسبت حریص هم نه یم . مادکعبې په شاوخوا کي د طواف په وخت کي له الله نه داسوال کړي ، دحجرالاسود دښکلولو په دوران کي مي داسوال کړي ، او دغه الفاظ مي ویلي دي چي زه ددي تنظیم دقیادت اودرهبري جوګه نه یم اوداإستعداد په ماکي نشته ، که خامخا داکاربه ماکیږي نوالهي ! زمانواقص رفع کړي دالوي صبر غواړي ، لویه حوصله غواړي او ډیرسترتدبیرغواړي ، پوهه اوحکمت غواړي ، داعلم غواړي ، تجربه غواړي چي زه یې نلرم . خوخداي په وړاندي مي اعتراف کړي اودتاسو په وړاندي هم اعتراف کوم اوبالهي داسي یوڅوك راپیدا کړي چي داټول استعدادونه په هغه کي وي او ماته ددي توفیق راکړي چي دیوسپاهي په حیث دهغه په څنګ کي کاروکړم . زه ستاسو په وړاندي اعتراف کوم چي په ماکي ښه ډیر نواقص دي ، ددي جوګه او اهل نه یم او دا امارت ورونو ماته سپارلي خوزه نیکو مشاورینو ته ضرورت لرم ، چي زما په څنګ کي وي او چي هرقدم اخلم هغه مخکي له مخکي نه ماتوجه کوي ماته مشوره راکوي او موږ څومره دي ته محتاجه یو، پدي ولس کي پدي جهاد کي څومره دیته محتاجه یو چي موږ دغسي نیك مشاورین ولرو ؛ ابتکار لري ، قضاباځبري ، غوروکوي ، شپه ورځ فکرکوي اومشکلاتو ته یې توجه ده دحل لاربې لټوي اوتنظیم متوجه کوي . قیادت اومسئولین یې متوجه کوي، موږدغسي ورونو ته سخت محتاجه یو اودهغوي قدرکوو. دهغوي دهري مشوري په نسبت دهغه په وړاندي مرهون یو . په خداي قسم دعایه ورته کوو او دهغوي مرهون یه یو.چي هره نیکه مشوره موږ ته راکوي . زه ډیر دغسي ورونه ګورم چي په دغسي یوحساس وخت کي یې ماته مشوره راکړي چي که هغه مشوره نه واي نوزمادنیا اوآخرت به تباه کیده . بس زه دهغي مشوري مرهون یم چي په همغه حساس وخت کي راغلي اویه یوي اشاري سره یې له ماسره ډیرله ماسره یې ډیره ستره مرسته کړیده . موږدغسي مشاورینوته سخت نیازمندیو. هغه ورونه چي حزب خپل کورګڼي ، لکه چي په کورکي په غلطي پرده اچوي اوبهریې نه برېنډوي بلکي دکورپه منځ کي یې حل وفصل کوي اورفع کوي یې نودغسي ورونوته موږ ضرورت لرو. الحمدالله دغه ډله اکثریت لري ، شمیریې هم ښه ډیر زیات دي اودحزب اصلي قوت هم همدوي دي . سنګرونه په دوي آباد دي . جهاد دوي شروع کړي اودي مرحلي ته داجهاد دوي رارسولي ، که توطئي شنډي شوي الله ددوي داخلاص په وجه هغه شنډي کړي . که داسترسترافتخارات یې ددي ملت په برخه کړي دهمدغو ایثارګرانو په وجه دي . موږ دوهمه ډله داسي هم لرو چي که څه هم قرباني یې نده ورکړي. په جهادکي یې فعاله ونډه نه وه ، خویه حزب یې زړه سوځیږي په ژبه او قلم یې له حزب نه دفاع کړي ، قرباني ورکوونکو او جهاد کوونکو قدرکوي، ترځانه یې بهتره ګڼي امتیازات نه غواړي ،، شکوه اوشکایت نه کوي که دغومجاهدینوته امتیازات ورکول کیږي پدغه اعتراضات نه کوي . دملت خیر دحزب په کامیابي اوتقدیر کي لټوي . داسي ګومان کوي چي حزب بواځینی موثر قوت دي چي دنوروپه نسبت بهتره کولاي شي چي اسلامي حکومت جوړکړي .

حزب دتوطئو مقابله کولاي شي، دملك داداري توان اواستعداد په کي ګوري ، ګومان کوي چي که حزب تضعیف شو نوجهاد کمزوري کیږي او دښمن ته دخپلوتوطئو دعملي کولو موقع په لاس ورځي ، بل دغسي منظم قوت نه ګوري چي دهغه ملاتړ اومرسته وکړي ، دغسي چي هغه دشراوفساد دتوطئو دمقابلي توان ولري ، الحمدالله دغو ورونو شمیر هم په حزب کي ډیر زیات دي .

دریمه ډله هغه کسان دي ، دټول جهادپه سطحه دټول ملت په سطحه مي مراد دي ، چي شمیریې ډیرکم دي ، خومشکلات یې ډیر زیات دي په جهاد کي یې برخه نده اخیستي . ددي ډیارلس کلن جهاد ستونځو او ګراوونو سره ندي مخامخ شوي . ښه آرام ژوندلري پرون هم نن هم . اروپا اوامریکا ته تللي اویادلته یې دجهادترنامه لاندي ښه ډیر امتیازات ترلاسه کړي ، خوچي هرڅومره ډیرامتیازات یې ترلاسه کړي ، حرص یې لاهم ، لازیاتیږي ، تندیزي اوشکایتونه یې هم دوچنده کیږي په مجاهدینو اویه تنظیمونو او ددوي په لوي او واړه ، پخپل اعتراض کي ډیر خوله ورږي ، ښه تنده او تیزه ژبه لري ، ښه په جرئت اوبې باکي سره خبره کولاي شي ، خویه عملي کارکي ډیر پس اوسست اوهیڅ برخه نلري . هغه کسان چي دبې بې سي او صداي امریکا له لاري هره ورځ په تنظیمونو اومجاهدینو سخت لګیږي اوله هرفرصت نه په استفادي سره باید دتنظیمونو په خلاف زهرپاشي وکړي . تنظیمونه سپك اوتحقیر کړي اویه ملت کي یې اعتبارختم کړي اودهغوي په خلاف تبصري اوتحلیلو نه وړاندي کړي . داهماغه کسان دي . ځیني نورهم داسي دي چي زه مجبوریم چي هغوته هم اشاره وکړم چي په حزب کي ستر قوماندان شي . حزب په قوم کي . ورته ښه ډیر اعتبارورکړي ، وسلي یې په اختیارکي کیږدي اوخپلومجاهدینو ته ووایې چي ته به ددي اطاعت کوي . بایه خپله رااوچت شوي . په هرصورت ، ښه ډیرمسلح کسان یې په خواکي ودریږي . لویه منطقه یې په لاس کي ورشي ، باهغه وورګروپ ولري او سنګرکي وي . نوبیاله همانه ځایه حزب تهدید وي او په خپلي هري لیکني اوپیشنهادکي هم ، په هرمکتوب کي چي حزب ته یې رالیږي نوته به همدا ګوري چي هغه حزب تهدید کړي . اووایې چي که زما پیشنهادونه ونه منلي شول او زما غوښتنوته ځواب ورنکړي شو، نوکه زه بل تنظیم ته ولاړم مابه نه ملامتوي . خودابه تهدید آمیزه لهجه وي . کورته مي فلاني راغلي وو . ډیریې په ماباندي کوشش کړي چي زه تنظیم پریږدم اوورشم . خومادتنظیم په خاطر داکارندي کړي . خودازماآخري شیبې دي اودازماآخري خط دي ، دغسي به حزب تهدید وي او داسي ګومان به هم کوي چي.دادحزب ماني دهغه پرسرولاړه ده ، که داسي معمولي سربي وخرخولو بس داکورچیه شو، ړنګ شو، ختم شوا ګویا حزب ده ته اړ اوډیر محتاجه دي . نه داچي دي خپله حزب ته اړاومحتاجه دي . داسي ګومان نه کوي چي ته الله اودین مکلف کړي یې چي په یوجماعت کي به دیو مطیع فرد په حیث اوسیږي ، لکه سهار دوخته به خوب پریږدي اوراځي به په جومات کي به دامام ترشا دصف په یوخالي ځاي ودریږي اودلمانځه په پاي کي به هم امام ته دعاکوي چي موږ ته یې امامت وکړ، داسي نه بلکي حزب ده ته محتاجه دي اوحزب باید خپل ټش ځایونه په ده پاندي ډك کړي او دده داحسان مرهون دي وي . همیشه باید حزب دي محنت بارکړي . متاسفانه چي موږ ځیني کسان همداسي هم لرو زما ورونو ته توصیه اوپیشنهادمي دادي چي لومړي باید موږ پدي لومړي ولي باندي حساب وکړو ، ځان به هم دهمدي په شان جوړوو او زموږ اصلي قوت به همغه وي .

دابه اصلي قوت ګڼو . کوشش به کووچي دادوهمه ډله غیرفعال مخلصین ، مخلصین دي خوفعال ندي ، پانسي فعال دي ، دارااوچت کړو ، دادلومړي ولي سطحي ته ورسوو . ددریمي ولي هم باید داصلاح کوشش وکړو اویاکم له کمه دهغوي دتبلیغاتو مخنیوي وکړو اوهغوي ته داصلاح معقوله لوربه ګوته کړوبعني داداصلاح معقوله لارده دالاره غوره کړه . خوداځلورمه ډله زه هغه کسان ګڼم چي دازموږ دعقیدي ملګري ندي اوشاید دامتیازاتو لپاره راغلي وي اوحزب به همیشه که بي نن ورکړ ، سبابه دهغو غوښتنو ته ځواب نشي ویلاي ، همیشه باید هغه ته امتیازات ورکړي شي ، که څه هم ددي امتیازاتو په خاطر خپل اصول پامالوو . اوکه څه هم هغه ته دحیثیت ورکولو لپاره دحزب حیثیت ځمیږي . تل به هغه لوړکینو ي، امیر به په حقیقت کي دهغه ماموروي . ځوك چي دامیر به حیث پیژني امیرندي ، په حقیقت کي هغه باید دده ماموروي او دده دپیشنهاد لاندي به دهغه دخوښي سره سم امضا ، کوي اواحکام به صادروي . بس امیرامیر ندي بلکي دده ماموردي اوکه یوه لحظه یې هم دهغه غوښتنوته ځواب ورنکړي بس بیا تنظیم ختم دي ، بیا به ګوري چي دیوستر حریف ، رقیب اوددښمن په حیث به عمل کوي . خو ددغو ورونو په نسبت هم موږ مسئولیت لرو ، داهم زموږ ورونه دي داهم زموږ دقوم افراد دي . داهم باید دیته متوجه کړو چي ستاجهاد اوستاقرباني دخداي (ج) لپاره ده اوته حزب ته ددي لپاره راغلي یې چي ستادیني وجیبه همداحکم کوي ، ستادین داحکم کوي. ته په یوتنظیم کي ژوندکوي ، داستادیني مسئولیت دي ، ته به دحزب وحدت غواړي ، ایثار به کوي، بل ته به ترځانه ترجیح ورکوي، دحزب کوربه ته په خپله جوړوي، شاید ځیني کسان دي مصلحت ته هم متوجه نه وي . دازموږ مسئولیت دي چي هغه متوجه کړو .

ورونو ! زموږ کاردعوت الي الخیر، امربالمعروف او نهي عن المنکر دي ، دابه دټولو په نسبت احساس ومسئولیت کوو او دټولو په نسبت به زړه سوانده یو او له موږ سره به همدا عقیده وي چي که الله

(۸مخ)

مصوبه هاي مجلس شوري جماعت اسلامي

ترجمه : اثیر

به ریاست قاضي حسین احمد امیرجماعت اسلامي پاکستان جلسه سه روزه شوراي مرکزي جماعت اسلامي باتصویب مواداتي به اتفاق آرا به پایان رسید.

" شوراي مرکز جماعت اسلامي اعلاترین مقامیست که مشي آن جماعت راتعین مي نماید. این اداره یك بار دیگر جنگ خلیج وپس آمد هاي آنرا مورد غوروبحث قرارداده ومصوبه دسمبر ۱۹۹۰ خودرا تکرار وفیصله ۲۶ فبروري ۱۹۹۱ شوراي اجرائیه جماعت راتائید نموده ومراتب تاثرخود را به بي وفایي وناداني خودي وهوشیاري وعیاري بیگانه گان اظهار داشت که

منجربه حصول مقاصدعاجل نیروهاي استعماري به سردمداري امریکا درشرق میانه که حیثیت قلب عالم اسلام را دارد گردیده است و برتباهي کویت وعراق وظهور اسرائیل همچومستحکمترین نیروي منطقه تاسف نمود .

جنگ که ظاهراً بامصرف یك ملیارد دالر براي آزادي کویت ازتصرف عراق آغازشد. منطقه را به تباهي کشاند - بیشتر ازیکصدهزار عراقي دکویتي جان هاي شان راازدست دادند زیاده از ۶۵ بلین دالر مصرف انها گردید وبیشتراز ۲۵ بلین دالر خساره مادي را ببارآورد .

بعدازمتلاشي شدن قدرت عسکري و اقتصادي عراق آن کشور گرفتار هرج ومرج گردیده است. این تباهي شامل وکامل به زیان امت مسلمه وعالم انسانیت است . لازم است به این سانحه توجه جدي وازآن عبرت گرفته شودکه بدون آگاهي بآن بهتر ساختن اینده ممکن نیست .

۱ - بدون شبه این جنگ جزء ازطرح سنجیده شده نیروهاي استعماري بودکه منظورازآن نابودي توان وقدرت سیاسي ، عسکري مسلمانان درشرق میانه وغصب ذخائر نفتي دنیاي عرب ، تقویت بیشتر اسرائیل وبه بهانه امنیت اجتماعي شرق میانه حاکم ساختن نظام استعماري جدید درین منطقه است ، ازین نظام بدون امریکا واسرائیل به کسي سودي نمي رسد. ظاهرا امریکا ومتحدینش بواسطه این جنگ قسمت ازخواست هاي شانرا حاصل داشته وبراي متباقي آن راه را هموار نموده اند ، درحالیکه درحقیقت آنها دریك جنگ غالب شده اند.

دنیاي اسلامي سعي وتلاش خودرا براي حفاظت آزادي هاي عقیدتي وسیاسي وفرهنگي ادامه مي دهند آینده گواهي مي دهد که هم چنان که درگذشته امت در برابرچنین وضعیت مقابله کرد ، درآینده نیز به سعي وتلاش خود ادامه مي دهد.

۲- بازپرسي نکردن خود عرب و حاکمان کشورهاي مسلمان دربدترکردن وضعیت ورساندن آن به این حد انجام دادند بمنزله خودفریبي محسوب میگردد. براي آشکارنمودن اینوضعیت رول قیادت عراق تباه کن مي باشد ، چنانچه صدام حسین رانخست درمقابل ایران استعمال کردند تانیروي اقتصادي وعسکري آن کشورتباه شود.

تمام بازي به اشاره امریکا واروپایي ها وهمکاري روسیه وبه تعاون مالي کویت ،عربستان سعودي ودیگر کشورها عربي صورت گرفت.

بعدازایران براي نابودي نیروي جنگي واقتصادي عراق نقشه جدیدي آماده گشت سهم صدام حسین بابي تدبیري واشتباهاتش دربوجود اوردن این نقشه کم نبوده است.

حمله عراق برکویت عمل ناجایز بود . قیادت عراق هروقت مناسب براي حل درست این معضله را ازدست داد. حتي بعدازتسلط جنگ هوایي امکان نجات نیروهایش رادرین جنگ نامساویانه ضایع نمود.

بعدازچهارروزجنگ زمیني آنقدر اسلحه رابه زمین گذاشت وبعدهرشرطي را پذیرفت که ازآن پیش آماده بحث در مورد آن نبود قیادت عراق آن اندازه مست غرور وبي تدبیري را از خودنشان داد که همه بآن به نظر عبرت مي بینند یك باردیگر این سخن را ثابت ساخت که بنیاد آن نظام که به اساس ایمان ،آزادي وشوري واحتساب اجتماعي گذاشته نشده است ناتوان وموجب تباهي میگردد .اکنون .۲ درصدرقیه عراق درتسلط ارتش امریکااست ،کشور،درآتش جنگ هاي داخلي مي سوزد وارتش عراق بعد ازشکست عبرتبارش اهالي کشورش راباهم ها نشانه میگرد ، قیادت عراقي مسؤلیت قسمت ازین تباهي رابدوش دارد بناء احتساب آن همچواحتساب کارهاي دیگران ضروري مي باشد.

۳ - درین جنگ عملکردقیادت هاي کشورهاي مسلمان منطقه افسوس ناك بوده آنها دروازه هاي خود را براي ورود نیروهاي استعماري بازگذاشتند. وفرصت تسلط آنها رادرمنطقه بازآوردند .درنتیجه این جنگ تمام منطقه خلیج عموما ، عراق وکویت بطور خاص برباد گردید . سرمایه یي که ازناحیه تیل سالهاي سال ذخیره شده بود به جیب امریکا ،اسرائیل ودیگرکشورهاي متحدفروریخت و ثروت ودارایي هاي منطقه تحت کنترول متحدین ومخصوصا امریکا قرارگرفت . اکنون عزم استعماري این کشورها براي تبدیل نمودن نقشه تمام منطقه آشکار است ،تمام مسؤلیت بدوش حکمرانان ومسلمانان منطقه است که درین بازي استعماري دانسته ویا نادانسته آله دست قرارگرفته اند آنها بالاخره درمحضر ملت مسلمان جوابده خواهند بود .

٤ - " پس منظراین جنگ عقب نشیني سیاسي روسیه در معاملات بین المللي بطورعام ودرمسایل شرق میانه بطورخاص یك مطلب قابل توجه بوده واصول جدیدي در روابط بین المللي بشمار مي رود.

اکنون دنیا جولان گاه یك قدرت بزرگ است وهرچیزبر به گردیك محورسیاسي میچرخد واین اعلان آشکار تسلط امریکا برجهان مي باشد وپذیرفتن آن براي امت مسلمان ازنظرعقیدتي وسیاسي به منزله خودکشي محسوب میگردد .مسلمانان بادرنظرداشت حیثیت عقیدتي ،سیاسي واقتصادي باید بگرد محور خویش بچرخند وبراي بارآمدن نیروي موثر سعي وتلاش خویش رابخرج دهند .

بدون آن هیچ راهي دیگرنه به خواست هاي دین هم آهنگي دارد ونه براي حیثیت سیاسي قابل قبول مي باشند ، مقتضاي حقیقت این است که در مورد هدف ومنزل واهمیت اعتقادات خویش بدون سازش ، وضعیت امت مورد بحث قرارگیرد، وبراي تعمیر نو پروگرام مهیا گردد.

٥ - علت اساسي مصیبت که برامت وارد آمده وبه تباهي که امروز دچار شده بي توجهي عام ، وبي وفایي حاکمان به اسلام و روگرداني آنها از هدایات خدا جل عظمة ورسولش صلي الله علیه وسلم مزید محروم بودن نظام اجتماعي کشورها ازصفات که اسلام براي زندگي ضروري وانمود ساخته است میباشد یعني حاکمیت شریعت حفاظت حقوق انساني ،آزادي اظهار راي ،آزادي سیاسي شوري نظام احتساب اجتماعي مزید بر این علت بوده حاکمیت مطلق العنان درهرلباسي که باشد تباه کن است .

سرچشمه توان مسلمانان وفاداري به خدا واداء حقوق امت مي باشد واین همان راهیست که بارفتن به آن امت یکبار دیگر اهمیت حقیقي اش را بازمییابد درین راستا ضروراست که امت مسلمه را بسوي استغفار ورجوع بخدا دعوت داد تا براي اداءنمودن کارموثر درزندگي اجتماعي آماده گردند .

٦- امت به خطر جدي دچار است که جلو گیري ازآن لازم مي باشد وبراي انجام این امر ازتمام مسلمانان دنیا تقاضامي نمایم کم:

الف : بازگشت تمام نیروهاي امریکایي واروپایي رازخلیج مطالبه نمایند. به کشورهاي که امراین ارتباط دارد لازم است تا بطور آشکارخروج نیروهاي بیگانه مطالبه بنمایند . حفظ امنیت منطقه بدوش کشورهاي مسلمان است ، به موجودیت ارتش بیروني وپایگاه هاي بیگانه رضایت داده نشود ومطابق نیاز، نیروي اسلامي تشکیل گردد.

ب : نظام اجتماعي موضوع امریکا بطور کلي تردید گردد وکشورهاي منطقه توسط سازمان کشورهاي اسلامي براي حل مشکلات شان اقدام شایسته انجام دهند وبراي حل منازعات که دربین این کشور ها وجود دارد راه درست بیرون نمایند.

ج : دربرابر سعي امریکا مبني براینکه اسرائیل همچو کشور مستقل پذیرفته شود مقابله گردد.

امت مسلمه برپنبادهاي اسلامي براي آزادي القدس وفلسطین منظم کرده شودو به تحریك انتفاضه کمك همه جانبه صورت بگیرد.

د: براي بازسازي اقتصاد منطقه نظامي وضع گردد که سودآن به منطقه مردم وکشورهاي مسلمان برگردد وبجاي آنکه دولت وثروت منطقه به کشورهاي غربي انتقال شود درترقي وتعالي منطقه وخوشحالي مردم آن وضرورت ها وفلاح مردم مسلمان دنیا استعمال شود.

ه : برملل متحد فشارآورده شود که به حل مسایل مسلمانان توجه کند که مسولیت آن بخود آن سازمان بنابر فیصله هاي که صادر نموده برمیگردد ، علي الخصوص درمورد مسایل فلسطین ،کشمیر ، افغانستان ،قبرس ،فلپاین ، اري تریا .

و : وقت آن است که قدرت مسلمانان در کشمکش میان ملت ها وحکمرانان مصرف نگردد وتمام نیروي آنها درمقابله باخطرات استعمال شود که ازطرف کشورهاي استعماري وحمله ثقافت وتهذیب غربي متوجه آنها است ، درچنین حالتي برتحریك هاي اسلامي فرض است که ملت ها را رهنمایي نمایند وبه آنها بهترین ثمرته قیام نظام اسلام وانسانیت راتقدیم دارند وبراي بدست آوردن این مقصد ضرور است که درکشورهاي اسلامي از حقوق انساني آزادي اظهار براي اجتماعات حفاظت گردد وبراي مسلمانان موقع داده شود که زندگي فردي و اجتماعي خویش را مطابق شریعت اسلامي عیارنمایند به این خاطر ما تقاضا داریم که درتمام ممالك اسلامي این ازادیها ،حقوق رعایت شود .

د رژیم پوځیان نور د نجیب په منتر او جنتر نه غولیږي

نجیب ته هغه خبره وریادیدله چي دکندهار سار پانو ته یې کړي وه چي که " مجاهدینو روسان ایستلي وي دادي مادي وباسي یا ترهغه وروسته خوبې باید یو لوي ښارنیولي واي "

دپوځ عیاشانو هم اټکل کاوه چي ددوي ددرواغو راپوروتو ماهیت هم روښانه شو نوځکه یې یوبل ته په اوچتو سترګو نشواي کتلي .

نجیب دغونډي برخه والو ته له کالیو سره په سترګو ورننوت اودغونډي برخه وال یې هم هغه چاته پاتي کیدل چي دنیا لګي دسوري په هیله دي . نجیب وایې چي : په خوست کي (۱۵۰۰۰) تنه په سارکي اوسیدل اوپرهغوي (۳۰۰۰۰) توغندي اوریدلي خوبیا دي پرهمدي وګړویاندي چي څو ورځي دمخه یې دکمونیزم ساتونکي اوقهرمانان بلل په پیغامونوکي بې پري ویاړل ننن دسکد هغه توغندي اوروي چي دخلیج دجګړي په بهیرکي دعراق وتلي وسله همدا وه اواسرائیلویې دهر توغندي په لګیدلو یوملیارد دالره خساره ترلاسه کوله اویه ریاض اوځینو نورو ښاروتوکي به یې دماتم ساندي خپرولي .

دخوست مسلمان وګړي ،هلته درژیم ناراضه پوځیان اوحکومتي منسوبین چي دوسلي په زورواکلابندي سائل شوي وو نورهیڅکله هم دنجیب په خبره نه غولیږي اودهغه منتراوجنتر نورنشي کولاي چي مات شوي پوځ رااوچت کړي . دخوست په جګړه کي دملي یا خاص ګارد دریمي لوا دري ډګروالانو داخبره په یوه خوله کړي چي نورفکرنه کیږي چي هیڅ افغان پوځ دي دمجاهدینو پرضد وجنګیږي داځکه چي مجاهدین په عمل کي اسلامي مقررات تطبیقوي له اسیرانو ، بندیانو اوتسلیمیانو سره سم چال چلند اوسلوك کوي.

نجیب په همدي ورځ دکابل دښار "دوزیراکبرخان مینې په جامع جومات کي دسرحدي ولایتونو هغه پخواني اوسیدونکي اودښاروتو پناه ګزینان راغونډ کړي ؤ چي خپل کلي کور ترنه پاتي دي دوي له هغوي نه په تبلیغاتي برخه کي کاراخلي خودهغوي له خبروهم څرګندیدله چي داړي نوري نه شي کیږي . پرافغانانو پاندي دناچلو سپکو اوپیسو چلول ناشوني کاردي نجیب خبرداري وکړي چي دخوست نیول دنورو سیمو د آزادولو پیل دي نو باید خپل ټول زور اوځواك وکاروي که نه نو دخوست په شان به له واکه ووځي .

موږ نجیب ته دپوځیانو داطمینان خبري هم واوریدي خوهغوي پخپل ځان اطمینان نه درلود ،چي څه وایې نو دوه ټکي مهم او ارخستناك دي لومړي داچي ټول مجاهدین دي دخوست د مجاهدینو په څېر یو موټي شي اوبل داچي درژیم په پوځ کي دي مسلمان وګړي اوستومانه پوځیان زموږ مجاهدو ورونو ته دمرستي لاس ورکړي اویه ګډه دي رژیم دنهستي کندي ته وغورځوي اویه دي توګه دي په افغانستان کي داسلامي نظام راوستلو ته لاره هواره کړي چي دهر چا ټول حقوق په کي خوندي شي.

نبوي ارشاد

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي :
بشسترا ودس دايمان برخه ده ،الحمدلله ويل
دتوعملونوپله ډکوي ،تسبيح اوتکبير آسمانونه
اوځمکه ډکوي ، لمونځ لوردي ،ذکات دريالپتوب
دليل دی ، صبرڼاده ،قرآن که ولولي ،بياعمل پری
وکړي ستاپه ګټه دی اوکه يې ولولی اوعمل پری ونه
کړي ستاپه تاوان دی
نسايي

سياسي حل داسلامي انقلاب خودکشي

تراوس موږ دادچاخبره وګټو، داخود امريکايي ، روسي نظر يوه انځور ګري اوعکاسي ده ، آيا افغانانو دادومره قرباني ددي لپاره ورکړي ، چي سياسي حل ته ورغاړيږدي ؟
خونه ! دامحترم مقام تيروتي ، دخوست فتحه دګوډاګي حکومت دنابودي اويه افغانستان کي داسلامي حکومت دودانيدلو الهي عطيه اوبريکړه ده ، چي دمجاهدو شاه ځلمو په وينو ځليدله .
دداډول غيرمسئولانه غږپورته کوونکي بايد پدي خبرشي ، چي دافغان ولس ددي ستراسلامي انقلاب اوستري قرباني ترشا پوصالح اوانقلابي نسل راپورته شوي ، اوهغه داسلامي انقلاب ګرد داخلي دښمنان لويديځ ډوله عياشان اودمسئوليت نه احساسوونکي خلک دخپل مجاهد ملت له قهراوغم ته خبرول غواړي، چي له اسلامي حکومت پرته دهرسياسي حل سوداپه مودشهيدانو دوارث ملت له محاکمي ونه ژغوري . اوته به هرهغه قدم اوچتيدو ته پريښودل شي ، چي د اسلامي نظام له قبلي نه يي مخ او لوري بدل وي .

اسرائيل چمتو دي چي له عربو سره په يوه سميزکنفرانس کي ګډون وکړي .

بيت المقدس ١٩ حمل :
وزير خارجه اسرائيل ازايالات متحده انتقاد کرده و ګفته است کمکهاي آن کشور که به شورشيان کرد ارسال شده است کافي نيست .
وي دربرابر ګروهي از کردهاي يهودي دربيت المقدس ګفت رساندن کمکهاي غذايي تنها بدان معني است که آوراګان کردباشکم سير خواهند مرد . موصوف افزود ،جهان تصميم ګرفت تا باشروع جنګ خليج فارس به ادامه بلند پروازي وظلم صدام حسين خاتمه بدهد ولي بدان سبب که کشتار کرد ها را يك ناآرامي داخلي تلقي مي کند به نظاره کشتار افراد نشسته است . کردها ملتي هستند که درحال قتل عام شدن اند يا اينکه ايشان صاحب نفت نيستند به کمك احتياج دارند وي درخاتمه ګفت اسرائيل به کردها کمکهاي لازم و بشردوستانه خواهند کرد.

پوليس رهبر قواي جانبازان مسلمان کشمير را باز داشت نمود

٢١ حمل ١٣٧٠ .
پوليس هند ادعاکرده است که يك رهبر ګروه مبارز مسلمانان را درکشميربازداشت نموده که اختطاف دوانجنير سويدني را ادعا کرده اند ، پوليس ميګويد : (يا پريدر) رهبر قواي جانبازدر حومهٔ سرينګرتوسط پوليس بازداشت شد اما قواي امنيتي دوګروګان نيافتند بازداشت اين رهبر مبارز مسلمان درحالي صورت ګرفت که مامورين حکومتي دردهلي جديد اين تقاضاي اختطاف کنندګان را ردکردند که به تيم هاي حقوق بشر درمقابل رهاي اختطاف شدګان سويدني اجازه ورود به کشميرداده شود.

نيروهاي حافظ صلح در مرزهاي عراق وکويت جابجا خواهد شد

کويت ١٩ حمل
سازمان ملل متحد درنظر دارد ٦٨٠ سرباز حافظ صلح خاور ميانه مستقر درقبرس را براي اجراي مقررات آتش بس برمرز کويت وعراق اعزام نمايد تيمورګوکل سخنګوي سازمان ملل ګفت ٤٨٠ سرباز حافظ صلح درجنوب لبنان و دوصد سربازديګر ازقبرس وياارتفاعات جولان که يك نيروي اوليه مرکب از ٤٨٠ نيروکه هيئت ناظر سازمان ملل در مرز کويت وعراق مستقر ميسازد بنام يونيکوم ناميده شده موظف است تا ازنقض موازين آتش بس جلوګيري نمايد نقاطي که قراراست اين نيروها درمرزهاي عراق وکويت جابجا شوند پنج کيلومتر درداخل خاك عراق وپنج کيلومتر در داخل خاك کويت قرار خواهند داشت سازمان ملل واحد هاي کمکهاي اضطراري وانجنيري را نيز به مرز دوکشور اعزام کنند.

... وروړو راځئ چي

جل شانه يوکس زموږ په لاس هدايت کړي نو که داټوله دنيا زموږ په لاس فتحه کړي ترددي نه هغه بهتره دی ! بواځي افغانستان خو پريږده چي هغه زموږ په لاس فتحه کړي ، ګه داټوله دنيا هم زموږ په لاس فتحه کړي ، که ددي په مقابل کي يوکس زموږ په لاس هدايت کړي ، دالله (ج) طرف ته . نو داتردي ټولو غوره اوبهتره دي ، الله دي موږ ته توفيق راکړي . خداي (ج) دي له موږ نه دخپل دين دکلمي دلوړاوي په جهت کي کارواخلي . خداي دي موږ رهنمائي کړي .
اقولوا قولي هذا استغفرالله لي ولکم والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

دعاګوو اوبيا اجتماع ختمو .
مجاهدوروړحکمتيار وروسته ديوي اوږدي دعائيي په ترځ کي ددغه د دري ورځني سيمينار اختتاميه غونډه رسما پاي ته ورسوله .

دخوست فتحه

دوروري اخلاص نه ډکه فضا اوديوي مشترکي لويي او واحدي قوماندي ته آماده شي نو دخيرالناصرين خداي (ج) په مرسته به کابل کي هم ژرترژره شين اسلامي بيرغ رپانده شي " ان شاءالله عزيز" دخوست د جګړي داسلام دلاري شهيدانو او فاتحينو ته سلام " بااحترام .

شهادت

عربي نړي دبين المللي کنفرانس غوښتونکي ده

اسرائيل چمتو دي چي له عربو سره په يوه سميز کنفرانس کي ګډون وکړي .
اسرائيلو دامريکا دبهرنيو چارو وزير جيمز بيکر ته ويلي دي چي اسرائيل حاضردي له عربي هيوادونو سره د سولي په يوسيمه ايزکنفرانس کي ګډون وکړي ، دهغه هيواددبهرنيو چاروزير د يويد ليوي وويل اسرائيل چمتو دي چي دامريکا د سرپرستي لاندي په جوړشوي داسي سيمه ايز کنفرانس کي ګډون وکړي چي نتيجه يې داسرائيلو عربي هيوادونو ترمنځ دوه اړخيزه اومخامخ خبري کول دي .
"ليوي" وويل چي سابې اسرائيل په دي کنفرانس کي دشوروي اتحاد ګډون ته هم غاړه کيږدي.
بيکر وويل : له "ليوي" سره دده خبري ګټوري او رغوونکي وي ، مګر زيانه يې کړه چي ديو سيمه ايز کنفرانس دجوړيدو پوري لا ډيرکاريه مخکي پروت دي اودمختلفو اړخونو سره بايد خبري وشي.
له بلي خوا عربي هيوادونو اودفلسطين دخپلواکي موسسه وايي چي دملګروملتو له سرپرستي لاندي دمنځني ختيځ په باب يو بين المللي کنفرانس جوړشي، دا پيشنهاد اسرائيلو ردکړي دي.
بيکر خپلوالو ته داحتياط کولو توصيه وکړه او په دي باب چي تراوسه پوري څه موافقه شوي د تلوار قضاوت نه کوي ،هغه وويل چي ټولي مسئلي نه دي حل شوي. بيکر بيا دخبرودپاره داسرائيلو صدراعظم اسحاق شميرته ورغي .
دامريکا خارجه وزير " بيکر " نن دلويديځي غاړي دغزي دتراټګي دشپږکسيزه هئيت سره هم ګوري هغوي نيت لري چي بيکر ته ووايي چي سيمه ايز کنفرانس دمنلو وړندي هغوي داڼيت هم لري چي متحده ايالات نه وغواړي چي امريکا دفلسطين دخپلواکي موسسي يې ابل او سره خپلي خبري بيا پيل کړي اويه اسرائيلو فشار واچوي چي داشغال شوي خاوري اوسولي د مبادلي اصل ومني .

شهيد ميرابوطالب ولد ميرمحمد نادر وشهيد ميرمحمد منصور ولد سيدانور مجاهدين قرار ګاه الفجر ولسوالي

اعلان فاتحه

چهاردهي ولايت کابل درخانواده هاي متدين وديندار ديده بجهان ګشودند ونظريه علاقه خاص شان به جهاد مسلحانه اغاز وبعداً شامل پوهنتون جهاد ګرديدند .
دراين اواخر نظريه تقاضاي شان ازطرف قومنداني جهاد پوهنتون عازم جنګ خوست ګرديدند بالاخره بتاريخ ١٧ حمل بعدازقهرماني هاي زياد در تپه متون خوست توسط موشك سکاد دولت مزدور دريك سنګر بدرجه رفيع شهادت نايل ګرديدند.
فاتحه شهداي ګرانقدر به تاريخ ٢٣ حمل روز جمعه ازساعت ٨ - ١٢ درکمپ خراسان مسجد مزاري از طرف اقارب شهدا مجاهدين قرارګاه الفجروقومانداني جهاد ګرفته ميشود دوستان مطلع باشند.

له پولينډ نه دروسيي عسکروتل پيل شوه

راديوي امريکا ٢١ حمل :
له پولينډ نه دروسيي عسکروتل پيل شول :
دشوروي اردويي له ډيره وخته يي له پولينډ نه دوتلو انتظار ايستل کيده دراکتي قطعي دعسکرو دلومړي ولي وتلو سره چي د پولينډ په شمال لويديځ کي دشوروي له پوځي اډي نه په اورګاډي کي- سپاره شول ، پيل شول .
دخبرونو له مخي دعسکروتخليه په داسي حال کي شروع شوه چي تقريبا دپنځوس زره عسکرو دپښيږو وتلو دپاره د نهايي نيټي په باب لاکومه موافقه نه ده شوي .
پولينډيانو غوښتي دي چي دا پوځونه بايد په خو مياشتوکي له پولينډه ځخه ووځي اودکال تر پايه پوري دهغوي وګل پاي ته ورسيږي ليکن دشوروي اتحاد جنرال وويل چي دعسکرونهايي وتل له آلمان نه دشوروي عسکروله وتلو سره تړلي دي .

دنوم بدلول

وروورعبدالرسول دسيدعلم زوي دکندوز ولايت دخان آباد ولسوالي دچهارتوت کلي اوسيدونکي چي فعلا دجلوزوپه کيمپ کي استوګنه لري اودالبنيان المرصوص دمجلي دتوزيع ماموردي خپل نوم په عبدالرحمن باندي بدل کړي هيله ده چي نوموړي په نوي نوم سره وپيژني . .

متاطعه احزاب مخالف البانيا با افتتاح جلسه پارلمان

٢١ حمل ١٣٧٠ .
درالبانيا رهبران احزاب مخالف تهديد کرده اند که، افتتاح جلسه اولين پارلمان إنتخابي چند حزبي در کشور مقاطعه خواهند کرد .
درانتخابات هفتهٔ قبل حزب دموکراتيك ازجمله ٢٥٠ کرسي پارلمان ٥٧ کرسي را بدست آورد درحاليکه کمونيست ها توانستند دوثلث کرسي هاي پارلماني را براي خود نګهدارند.
راما رهبر حزب دموکراتيك البانيا ميګويد :
يګانه راهيکه حکومت ميتواند جلو اين مقاطعه را بګيرد افشاي اسماي کسانيست که مسؤل قتل چهارنفر درشهر سکوترا اند.

عراق دکردانو په هکله د برتانيي مفکوره ردکړه

راديوي امريکا ٢١ حمل :
عراق د کوردانو په هکله برتانيي مفکوره ردکړي .
دعراق حکومت هغه پيشنهاد نه مني چي وايي دعراق په شمال کي دي دکردي پناه غوښتونکو ليپاره داسي ځاي جوړشي چي دوي په کي محفوظ اوپه امن وي .
له بل پلوه په غربي هيوادونوکي ددي مفکوري پراخ ملاتړکيږي دخبرونو له مخي دعراق دخبررسولو آژانس د عراق صدراعظم" سعدون حمادي " په حواله وويل چي په دي پيشنهادباندي شکمن اويد ګمانه دي او بغداد به په ټوله معني دهغه په خلاف مجادله وکړي سعدون حمادي دغه ټکي د برتانيي دبهرنيو چارو وزير د"ګلاس هرد " دهغه مفکوري په هکله وکړه چي ويلي يي وو چي په کردانو باندي دعراق ظلم اوزور دوام ولري نوپه زوروي اوګه په رضا دکردانو دپاره د امن پوځاي بايد جوړکړاي شي . دداسي پوځاي مفکوره لومړي دترکيي لخوا وړاندي شوله اوبيرون داروپايي ټولني له خوا تائيد شوه، تاکل شوي ده چي دامنيت شوري به ددي پيشنهاد په باره کي غور اومشوره وکړي .

مصروسوريه خودرا براي مذاکره باجيمزبيکر آماده ميکند

٢٠ حمل ١٣٧٠ .
مصرو سوريه خود را براي مرحله بعدي سفر جيمزبيکر وزير خارجه امريکا به شرق ميانه آماده ميکنند.
جيمزبيکر دراين سفربه قاهره ودمشق خواهد رفت فاروق الشر وزير خارجه سوريه باحسني مبارك درقاهره مذاکراتي انجام داده است.
مقامات ميګويند وزير خارجه سوريه حامل پيامي از طرف حافظ الاسد براي حسني مبارك بوده است که در آن اوضاع منطقه تشريح شده اما متن دقيق اين پيام فاش نشده است .
دولت هاي مصروسوريه اين موضوع را روشن کرده اند که مخالف تشکيل کنفرانس منطقه بمنظورحل مسئله فلسطين استند . وميخواهند که کنفرانس وسيع تري باشرکت همه طرفهاي درګير تشکيل شود ونماينده شوري امنيت نيز درآن شرکت جويد .

مبارزين سك هجده نفررا به ضرب ګلوله به قتل رسانيدند

٢١ حمل ١٣٧٠ .
مبارزين سك که براي يك وطن مستقل براي خود مي جنګند هجده نفر را به ضرب ګلوله بقتل رسانيده اند پوليس ميګويد افراد مسلح دريك دهکدهٔ واقع درشمال شرق سرينګرپايتخت کشميرازيك موتر تيز رفتار بيرون جستند وبالاي يك جمعيت که براي تماشاي مسابقه ورزشي اجتماع کرده بودند تيراندازي کردند ګفته ميشود در اين واقعه زياده ازبيست نفربه شدت زخمي شده اند وپوليس ميګويد که هردو دسته ازهندوها ، سکها جز تلف شدګان ومجروحين اند افراد مسلح درتاريکي شب فرارنموده اند .

چين اقدامات شديدي براي جلوګيري ازناآرامي هاي ضددولتي اتخاذميکند

٢٠ حمل ١٣٧٠ .
ليپنګ صدراعظم چين ګفته است که دولت وي ميخواهند اقدامات قاطعانه براي سرکوب ناآرامي هاي ضددولتي درپيش ګيرد.
ليپنګ ګفت : ارتش چين ديوار آهني وپولادي عظيمي است که ازنظام سوسياليستي حمايت ميکند وي ازسرکوب خشونت بار نهضت هواداران دموکراسي درسال ١٩٨٩ دفاع کرد وګفت که اګر اقدامات قاطعانه درآن هنګام درپيش ګرفته نشده بود ، چين نميتوانست از ثبات وپيروزي اقتصادي کنوني بهر مند ګردد.

ګرجستان له شوروي نه خپل استقلال اعلان کړ

امريکا ٢١ حمل : ګورجستان له شوروي نه خپل استقلال اعلان کړ
دشوروي ګرجستان جمهوريت پارلمان له کريملين سره ديوي نوي مبارزي په لړکي له شوروي اتحاد نه دهغه جمهوريت داستقلال په باب يوفرمان تصويب کړي دي .
دګرجستان پارلمان ديوي خاصي غونډي په ترځ کي دااقدام دوي هفتي وروسته له هغه تصويب کړ چي ددغه جمهوريت خلکو په يوه ريفراندم کي په ډيرغټ اکثريت سره داخبره تصويب کړه چي دغه جمهوريت له مسکو نه خپل استقلال واخلي له دغه اعلان وروسته په زرګونو خلك سرکونو او واټونو ته راووتل او خوشحالي يي وکړي . دشوروي اتحادخبررسوني آژانس تاس وايي چي دا اقدام د ١٩١٨ کال د مي د ٢٦ نيټي په هغي اعلاميي متکي ؤ چي دروسيي دامپراطوري له رنګيدو وروسته دګرجستان لخوا دخپل استقلال په باب صادره شوي وه د بالتيك په دريو جمهوريتونو پسي ګرجستان څلورم جمهوريت دي چي خپل استقلال يي اعلان کړ.

بعدازاخراج قواي امريکا ازمنطقه خليج طيارات آن بر فرازعراق ماموريت هاي نظارت را به عمل مي آورد

قصرسفيد ميګويد طياره هاي ايالت متحده حتي بعدازخروج قواي زميني امريکا ازجنوب عراق براي تضمين متابعت عراق از آتش بس که ازطرف ملل متحد مقرر شده است ، برفرازآن کشور ماموريت هاي نظارت را بعمل خواهند آورد .
نطاق رياست جمهوري امريکا درباره اينکه اين مراقبت هوايي تاچه وقت دوام خواهد يافت چيزي نګفت اما اظهار نمود که تا مدت ها بعداز خروج قواي زميني امريکا درجنوب عراق اين عمليه ادامه خواهد يافت.
نطاق هم چنان ګفت هميکه قواي ناظرملل متحد به محل برسد خروج عساکر امريکا از عراق سريع ترخواهد شد.

کويت ٦٠٠ نفرافراد خارجي رامحاکمه ميکند

مقامات کويتي ميګويند تا چند هفته ديګر ٦٠٠ عراقي، فلسطيني واتباع ديګر کشور ها که دارتکاب جنايات جنګي درکويت دخيل هستند محاکمه خواهد شد.
عبدالعزيز الدخيل معاون وزيرعدليهٔ کويت دريك کنفرانس خبري درکويت ګفت : اين افراد به اتهام قتل، شکنجه ، تجاوز جنسي، جاسوسي وخيانت محاکمه خواهند شد وبرخي ازمتهمين بامجازات اعدام روبروهستند وي ګفت . محاکمات طبق حکومت نظامي ودربرابر هياتي ازقضاوت نظامي وغير نظامي برګزارخواهد شد آمار وارقام دولتي نشان ميدهد بيش از يکهزار کويتي کشته و بيش از ٥٠٠٠ تن ديګرمفقود الاثر هستند ، رژيم بغداد بيش از شش هزار کويتي را آزاد کرده وميګويد کليه ګروګان ها واسراي کويتي را رها نموده است وي افزود امکان دارد برخي از ناپديد شدګان به ديګر کشور ها فرار کرده باشند.

دجنازي اعلان

دشهادت دورځپاڼي دخبرنګارقاضي عبدالهادي نيازي دپلارقاضي عبدالواسع دمړيني له کبله دوستانوته خبروركول کيږي چي دنوموړي مرحوم جنازه نن دپنجشنبي په ورځ د حمل دمياشتي په ٢٢ نيټه دپيي استيشن دمريزچوك په ليکرکلي کي ددوي له کوره اخيستل کيږي ، دجنازي لمونځ به نوموړي ورځ په لسويجو دهجرت کلي په جامع جومات کي ادا اوجنازه دهجرت کلي په هديره کي خاورو ته سپارله کيږي دوستان دي خبروي .

انجمن تحقيقات علمي ومشورتي افغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم
انجمن تحقيقات علمي ومشورتي افغانستان
"انجمن تحقيقات علمي ومشورتي افغانستان RACA جهت فعال ساختن دوکميته مربوطه به دو نفر با شرايط ذيل نيازدارد.
١- براي "کميته تحقيقات اموراقتصادي واعمار مجدد":
الف : مؤيد جهاد شکرهمندملت مجاهد افغان
ب : داراي حداقل درجه تحصيلي ليسانس در انجنيري وترجيحا اقتصاد.
ج : داراي حد اقل يکسال تجربه تحقيقاتي دريکي ازدورشته فوق
٢- براي " کميته تحقيقات صحي واحصائيوي ":
الف : مؤيد جهاد شکرهمندملت مجاهد افغان .
ب : داراي حد اقل درجه تحصيلي M.D–درطب .
ج - داراي معلومات کافي ومفيددررشته‌ احصائيه حياتي
د : داراي معلومات کافي ومفيد درتحقيقات صحي .
درانتخاب افراد فوق برادرانيکه داراي تجربه شرکت عملي درجهاد شکرهمند ملت مجاهد افغان اند ، ارجحيت خواهند داشت.
متمني است واجدين شرايط فوق الذکر ،لطفا ازساعت ١٠٠ . ٩ إلي / ١٦٠٠ همه روزه - باستثنا ايام رخصتي - توسط تيليفون شماره / ٨١٣٥٥ بامنشي اين انجمن تماس بګيرند ويا به آدرس ذيل مکاتبه نمايند.
RACA, POB #710, UNIVERSITY TOWN, PESHAWAR
اميد تحقق ارمان شهدا ، قهرمان"
انجمن تحقيقات علمي ومشورتي افغانستان"
RESEARCH S ADVISORY COUNCIL OF AFGHANISTANRACA

شهادت
بيانګرعقايدوآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان
موسس : انجنير "حکمتيار"
صاحب امتياز: حزب اسلامي افغانستان
ناشر : رياست ارشادوفرهنګ
سال تاسيس : ١٣٥٧ هجري شمسي
تحت نظر هيئت تحرير
سرمحرر : سيدغلام الدين "اثير"
مهتمم : فضل ولي "ناګار"
تلفون : ٦٢٧٨٩ - ٤٠٢٢٤ پشاور
پوست بکس (١٤٦٥) يونيورستي تاون - پشاور